کابل دښوونې او روزنې پوهنتون

ژبو او ادبیاتو پوهنځی

پښتو څانګه

پښتو ژبه او ادبیات

د ?وونکود روزن? عالي مؤسسو د ناپ?تو ?ان?و

د دیارلسمو او ?وارلسمو ?ول?یو لپاره درسي

کتاب

لیکوالان: پوهنمل محمد آقا (شېرزاد)

او پوهنمل جمشید (رشیدي)

کابل ۱۳۸۵ لمریز

Download from: aghalibrary

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: پښتو ژبه او ادبيات
ليکوالان: پوهنمل محمد آقا (شېرزاد)
او پوهنمل جمشېد (رشيدي)
کمپوز او ډيزاين: رفيع الله (ستانګزی)
کمپيوټر چارې: رفيع الله (ستانګزی)
چاپځای: کابل ، افغانستان
چاپکال: ۱۳۸۵ لمريز
چاپ شمېر: 1000 ټوکه

Download from: aghalibrary

لړلیک

سرلیک مخګڼه

سریزه...
ژبه..
دژبې ګرامر...
فونولوژي...
خپلواک اوازونه...
بې واک اوازونه...
نیم واک غږونه..
غبرګغږونه..
ګړپوهنه (مورفولوژي)..
دمورفیم ډولونه..
دجنس په لحاظ د توم ګردان..
دنارینه نوم نښې..
ښځینه نوم نښې..
دعدد په لحاظ دنوم ګردان...
دنارینه دنوم د جمع کولو نښې نښانې...................................
دښځینه نوم دجمع کولو نښې نښانې....................................
دنوم حالتونه..
فاعلي حالت..
مفعولي حالت..
اضافي حالت..
ندایي حالت...
ارتباطي حالت..
دنوم څلورګوني ډلې...
نوم او دهغه ډولونه...
ستاینوم او دهغه ډولونه...
دستاینوم ډولونه..
اسم عدد او ډولونه یې...
نومځرى (ضمیر)...
دضمیر ډولونه..

Download from: aghalibrary

شخصي ضميرونه او ډولونه يې...............................
ملکي ضميرونه...
اشاري ضميرونه...
پوښتني ضميرونه...
ناجوت ضميرونه...
قيدي ضميرونه...
کړول (قيد) او ډولونه يې...............................
کړ (فعل)..
د شخص په لحاظ د فعل ډولونه...............................
فعل د زمانې په لحاظ...................................
فعل د مانا په لحاظ......................................
نحو (ويناپوهنه)..
جمله...
مبتدا...
خبر...
عبارت...
دجملې مانيز ډولونه......................................
دجملې جوليز ډولونه.....................................
د ادب او ادبياتو پيژندنه................................
دمحتوا له مخې د ادب ډولونه.............................
نظم او نثر...
شعر...
د شعر ډولونه...
د پښتو ادبياتو تاريخ.....................................
دادب تاريخ پيژند......................................
د پښتو ادبي تاريخ دورې..................................
لرغونې دوره...
دامير کرووړ ويارنه....................................
د پښتو ادب تاريخ ځينې نور شاعران او ليکوالان.......
ددې دورې ښحينه شاعرانې................................
د پښتو ادب تاريخ منځنۍ دوره.............................
بايزيد روښان...
خوشحال خټک...
رحمان بابا...

Download from: aghalibrary

حمید مومند...
دپښتو ادبیاتو اوسنۍ دوره...
داوسنۍ دورې دځینې شاعرانو شعرونه او نثرونه..........
صالح محمد کندهاری...
غلام محی الدین افغان...
ګل پاچا الفت...
عبدالحی حبیبي..
عبدالرؤف بینوا...
عبدالشکور رشاد...
صدیق الله رښتین..
املاء او انشاء..
املایي لارښوونې..
په پښتو کې د(ی) ډولونه...
دلیکوالۍ فن..
انشاء یا لیکنه..
دلیکوالۍ دفنپه هکله څو عمومي لارښوونې او پاملرنې..
دمقالې لیکنې عمومي چوکاټ...
دکتاب لیکنې عمومي چوکاټ...
لیک نښې...
اخځلیکونه..
....

Download from: aghalibrary

دباندینیو او کورنیوژبپوهانو دپلټنو او څېړنو په ترڅ کې دا جوته شوې چې پښتون دآریایي قوم یوه څانګه ده اودا هغه آریایي پښت دی چې څلور زره کاله پخوا په بلخ،بخدي او آمو سیند په غاړو او شاوخوا کې اوسیدل،پښتو د همدې خلکو ژبه وه .

ځینو پښتو له سامي ژبو څخه یوه ژبه بللې ده. په دې اړوند یوه باندیني پروفیسور د روسیې د اکاډمۍ غړی چې (کلاپورت) نومیږي داسې ویلي دي: ((چې ځینو خلکو پښتو سامي بللې ده. خو زما په اند پښتو یوه خالصه هندو آرین ژبه ده. ځکه چې دغه ژبه نه دالفاظو ، لغاتو او نه د ګرامر له مخې سامي ژبو سره کومه اړیکه لري.))
دکلاپورت نظرد پښتو ژبې په اړوند نورو ډېرو بهرنیو پوهانو هم تایید کړی دی، او داخلي پوهان هم دا نظر تاییدوي.
ځکه چې پښتو ژبه،دالفاظو ،ترکیبونو او ګرامر له مخې د عبراني او سامي ژبو سره هیڅ اړیکه او ورته والی نه لري. نوپښتو یوه لرغونې او تاریخي ژبه ده،چې دنسبتي (و) په یوځای کېدو سره د ویدي عصر مشهورې قبیلې (پښت = پکهت) ته منسوبیږي .
دپکهت قبیله د آریایي لسو قبیلو له ډلې څخه ده،چې د ریګویدا په کتاب کې یې څو ځایه نوم یاد شوی دی.
د ((پښت)) قبیله د وخت په تېرېدو سره د (ون) د روستاړې په یوځای کېدو سره د ((پښتون)) په بڼه اوښتې ده.
په هر صورت دغه ملت د لرغونې اریانا په خاوره کې دپامیر، هندوکش، سپین غر، کسي غر په لمنو او دآمو،هلمند،آباسیند او نورو سیندونو په غاړو کې روښانه او ویاړلی تاریخ لري.
پښتو او دري دواړه خویندې ژبې د هېواد په ښوونځیو ، د ښوونکو دروزنې په عالي مؤسسو او دپوهنتون په ځینو پوهنځیو کې تدریس کیږي.

پښتو ژبه د ښوونې او روزنې پوهنتون ،په ځینو پوهنځیو کې
[اختصاصي تعلیمات،مسلکي تعلیمات،ژبو او ادبیاتو پوهنځی(دري، روسي، عربي او انګلیسي)] څانګو کې تدریس کیږي. د پوهنځیو د درسي پلانونو مطابق ددې ژبې تدریس ته دوه کریدټه یا دوه درسي ساعتونه په یوه سمستر کې او په ځینو کې په دوه سمسترونو کې تدریس کیږي.
پښتو ژبې ښوونکي کله چې پښتو د دوهمې ژبې په حیث تدریس کوي دوی باید دژبې د زده کړې او تدریس څلورګوني مهارتونه(اوریدل،خبرې کول،لوستل او لیکل) په پام کې ولري.

دژبې ښوونکي دې ددوهمې ژبې د تدریس په صورت کې کوښښ وکړي ،چې کوم دستوري او ګرامري توپیرونه چې د زده کوونکي د مورنۍ ژبې او د دوهمې ژبې ترمنځ موجود وي زده کوونکو ته ور په ګوته کړي. څو په راتلونکې کې زده کوونکي په دې اړوند د تېروتنې څخه ځان وژغوري.
مثلاً دپښتو ژبې ښوونکي کله،چې پښتو د دوهمې ژبې په حیث په دري ژبو سیمو کې ښوونځیو یا دلوړو زده کړو په مؤسسو کې تدریس کوي،نو لازمه ده،چې په لومړي قدم کې په هغو توپیرونو

باندي رڼا واچوي، کوم چې د دري ژبې او پښتو ژبې په ګرامري جوړښتونو کې موجود دي.
دمثال په ډول د مضاف او مضاف اليه په برخه کې، چې په پښتو ژبه کې لومړی مضاف اليه او بيا مضاف راځي. ؛ لکه: ((دکابل مڼې)) چې يو اضافي ترکيب دی. (د) د اضافت ادات، (کابل) مضاف اليه او (مڼې) مضاف دی. همدغه ترکيب په دري ژبه کې برعکس راځي. خو که مضاف اليه د (مې، دې، يې) ضماير واقع شي، بيا د دري په شان لومړی مضاف او بيا مضاف اليه واقع کيږي. ؛ لکه: (کتاب کې) او نور.
دصفت او موصوف په برخه کې چې په پښتو ژبه کې صفت تر خپل موصوف د مخه راځي او د موصوف سره مطابقت ښيي، حال دا چې په دري ژبه کې بيا دا فرق کوي.
په همدې ډول د مذکر او مؤنث په برخه کې چې په پښتو ژبه کې د نارينه نوم او ښځينه نوم لپاره ځانګړې نښې او علامې موجودې دي. چې بيا دا نښې او علامې د دري ژبې په ګرامر کې نه تر سترګو کيږي.
او په همدې ډول نور تو پيرونه....
ترتيب شوی درسي پروګرام لاندې برخې لري:
داچې زده کوونکي او زده کړيالان د پښتو ژبې په ګرامري اساساتو او قواعدو، پوهېدلي او زده کړه ترلاسه کړې وي، نو په لومړۍ برخه کې
د پښتو ژبې په دري جوړښتي نظامونو (فونولوژي، موفولوژي، سنتکس) باندې په فشرده ډول معلومات راوړل شوي دي.
دوهمه برخه کې په ادبياتو، نظم او نثر او د پښتو ادب تاريخ په دورو باندې د ضرورت وړ مطالب ځرګند شوي دي.
په دريمه برخه کې داچې زده کړيال د تحصيل په لړ او فراغت مهال کې خپلې ليکنې او د نورو ليکنې په درست ډول ليکلې او تعقيب کړې وي، ځينې املايي او انشايي لارښوونې اود ليک نښې نښانې راوړل شوي دي.
په پای کې هغه اخځليکونه راوړل شوي، کوم چې ددې درسي کتاب په ترتيب کې ترې ګټه اخيستل شوې. ښايي د مطالبو په ترتيب او تنظيم کې نيمګړتياوې تر سترګو شي د درنو لوستونکو او پوهانو څخه يې دلا تکميل په اړوند سترګې په لار يو.
په درنښت
پوهنمل محمدآقا (شېرزاد)
دښوونې او روزنې پوهنتون د پښتو څانګې استاد

ژبه

ژبه په عام ډول سره د پوهولو اورا پوهولو یا افهام او تفهیم وسیله ده، په خاص ډول ژبه د غږیزو ، اوریزو او سیمبولونو یو داسې کسبي او اتفاقي سیستم دی، چې د یوې ټولنې وګړي یې یو له بله د پوهولو او راپوهولو لپاره پر ژبه راوړي او یو بل ته یې اوروي.

یا په بله وینا: ژبه په خاص ډول هغه اوازونه دي، چې انسانان یې د خپلو افکارو او خیالاتو د څرګندولو په غرض تریو ځانګړي نظم او سیستم لاندې د غږیزو غږو په وسیله له خولې څخه راباسي او په دې توګه یو له بله سره اړیکه ټینګوي، یانې یو بل پوهوي او راپوهوي.

داچې ژبه لومړی ځل څنګه منځ ته راغلې ده ؟

په دې باب د علماؤو تر منځ مختلف نظریات اقامه شوي دي چې د ټولو راوړل یې دلته لازم نه دي خو په لنډ ډول داسې ویلی شو چې:

ژبه له ټولنیز ژوند سره سمه منځ ته راغلې ده، داسې چې د ټولنیز کار په بهیر کې لومړی د نغوتو ،اشارو او ورپسې د جړوپړو او هیجاني غږونو په بڼه غږیدا پیدا شوې او بیا له هغو څخه د پرله پسې ټولنیزې اړتیا په توګه ژبه منځ ته راغلې ده.

د ژبې د پیدا ایښت تاریخ د انسانانو د پیدا ایښت د تاریخ سره ټینګې اړیکې لري.او د انساني ټولنې د تاریخ د تکامل او پرمختګ سره یې سم تکامل موندلی دی او په نتیجه کې یې دغه اوسنۍ بڼه غوره کړې ده .

داخو څرګنده خبره ده، چې لومړني انسان د پیدا ایښت په لومړي وخت ژبه نه درلوده، خو کله چې یې د دې ضرورت احساس کړ خپلې غوښتنې، افکار او خیالات نوروته انتقال کړي نو د ستونزو او مشکلاتو سره سره یې ژبه منځ ته راوړه او د ژبې د پیدا ایښت دغه پیښه ډیره پیچلې، د تحول او تکامل ډېره اوږده دوره یې تېره کړې ده .

څرنګه چې ژبه په تاریخي ډول پیدا شوې او د انسانانو ترمنځ د ګډون یوه پیچلې وسیله ده.یانې هغه وخت، چې انسانانو ته دا احتیاج پیدا شوی، چې یو بل ته څه وو ایي د دغه احتیاج له مخې غږیزو غړو (صوتي اعضأ) پراختیا وموندله، چې په تدریج سره دغه پراختیا او بریالیتوبونه پر مخ ولاړل، چې بالاخره د خبرو کولو نننۍ نړۍ منځ ته راغله، چې دغه اوسنۍ بڼه او شکل د ټولنیز ژوند د اوښتون او پرمختګ ښه پایله ده، چې ژبې هم ورسره په خپل وار اوښتون او پرمختګ کړی دی.

دژبې ګرامر:

کله چې یوه ژبه څېړو او مطالعه کوو یې نو د هغې ژبې د غږونو او اوازونو جوړښت ،مورفیمونه یانې دمانا لرونکو عناصرو او کلمو جوړښت د عبارتونو او جملو جوړښت تر څیړنې او مطالعې لاندې نیسو ،چې په نوې ژبپوهنه کې د تشریحي ژبپوهنې دغې برخې ته ګرامر وایي.

داچې ژبه ځان ته درغښت او ساختمان ځانګړی نظام لري نو دژبې ګرامر دژبې درغښت او جوړښت همدغه نظامونه تشریح کوي.

پښویه یانې ګرامر د تشریحي ژبپوهنې هغه لویه او غوره څانګه ده، چې د یوې ژبې د جوړښت

(ساختمان) نظام او سیستم د تاریخ په یوې ټاکلې مرحلې کې تر څیړنې او مطالعې لاندې نیسي.
پښتو ګرامر د غه وروسته درې مهمې او لویې څانګې لري:

۱.غږ پوهنه یا فونولوژي phonology
۲-ګړ پوهنه یا علم صرف(مورفولوژي) Morphology
۳- جمله پوهنه یا علم نحو(سنتکس) syntax

غږ پوهنه یا علم صوت(فونولوژي):

په غږ پوهنه کې غږونه او دهغو د پیدا ښت ډولونه او نورې ځانګړتیاوې په علمي او سیستماتیک ډول تر څیړنې او مطالعې لاندې نیول کیږي.
غږ یا فونیم:
دژبې تر ټولو کوچنی غږیز توک دی، چې په ځانګړې توګه کومه مانا نه لري مګر په کلمو کې د مانا د توپیر سبب ګرځي.
مثلاً: د(پ) فونیم په پند pand کې که په (ب) بدل شي نو بند band ترې جوړیږي.
دفونیم لیکلې بڼې ته ګرافیم ویل کیږي. یا په بل عبارت ګرافیم هغه د لیدو وړ رسم دی، چې دیوه اواز ښکارندويي کوي.
غږونه د سا(هوا) د چلند له مخې په څلور برخو ویشل کیږي:
الف: خپلواک(واول)آوازونه
ب: ناخپلواک(کانسوننټ) اوازونه
ج: نیمواک (نیمه واول) آوازونه
د: غبرګغږونه (دیفتونګونه)یا ترکیبي آوازونه
الف: خپلواک آوازونه (واول آوازونه):
هغه اوازونه دي، چې د تلفظ پروخت یې خوله یا صوتي وتونځی دهیڅ ډول هوايي بندیز سره نه مخامخ کیږي. یانې له خولې څخه داسې ښوی راوځي، چې غږیز غړي یو له بله سره ټکر نه کوي او په دې توګه د تنفس دهوا په جریان کې کوم بندښت او موانع منځ ته نه راځي.
واول اوازونه دادي:

۱- الف(ά) لکه د اواز په کلمه کې =(άwάz)
۲- زور(a) فتحه لکه د توره په کلمه کې =(tora)
۳- زورکی کوچنۍ (ه) (ə) لکه دتره په کلمه کې (tra)
۴- څرګند یا لنډ زیر(ي، i) لکه دښادي په کلمه کې (sádi)
۵- اوږد سپک زیر(ې e) لکه دناوې په کلمه کې (Náwe)

۶- اوږد پیښن (و=0) لکه دلور په کلمه کې (lor)
۷- لنډ پیښن (و=u) لکه د سور ،خوی په کلمو کې (sur-xay)

ب: بیواک (کانسوننټ) اوازونه:

هغه اوازونو ته ویل کیږي، چې د تلفظ په وخت د سا(هوا) جریان د غړیزو غړو په واسطه په بشپړ یا نیمګړي ډول تمبنت یا بندښت پیدا کوي.
په پښتو کې بیواک آوازونه دا دي:

۱- (ب= b) لکه په برخه barxa – بوره = bura کې
۲- (ت= t) لکه په توره tora - تاک tak کې
3- (پ = p) لکه په پور pur - پول pul کې
۴- (ټ= t) لکه په ټال tál - نیټه Neta کې
۵- (ج = j) لکه په جاج jáj - جنګ jang کې
په همدې ډول تر پایه ....

ج: نیمواک (سیم واول) آوازونه:

هغه اوازونو ته ویل کیږي، چې د خپلواکو او بېواکو اوازونو تر مینځ منځګړیتوب کوي. یانې که چیرې د سیلاب ، څپې یا هجا هسته وګرځي د خپلواک اواز بڼه او که چیرې د څپې هسته ونه ګرځي نو د بېواک اواز بڼه ځان ته نیسي.
پښتو ژبه دوه نیمواک اوازونه لري:

۱- (و = w) لکه د درواغ rwágəd او ورور wror په کلمو کې
۲- (ي=y) لکه د yum او یلبند yelband په کلمو کې

د: غبرګغږونه یا ترکیبي اوازونه:

یو ډول نور اوازونه هم شته، چې هغو ته غبرګغږونه (دیفتانګونه) وایي.
غبرګغږونه عبارت له هغو اوازونو څخه دي، چې یو جز یې خپلواک یانې غږیز اواز او بل جز یې نیمواک یانې سیم واول وي یانې د واولونو او سیم واول له یو ځای کیدو څخه مینځ ته راځي خو پدې شرط، چې لومړی توری یې خپلواک او ورپسې دویم یې نیم واک وي او د یوستوي غږ په څیر له خولې څخه راوځي. څرنګه چې په پښتو کې دوه نیمواک اوازونه لرو نو دیفتانګونه یې هم په دوه ډوله جوړیږي:
اول: د(ی = y) په مرسته جوړ شوي دیفتانګونه:

۱-(آی=áy) لکه: پای páy ځای záy
۲-(ای=ay) لکه: سړی sɑrɑy منګی mɑngɑy
۳-(ۍ=yə) لکه: زمرۍ yəzmɑr ملالۍ mɑlál yə
۴-(وی=uy) لکه: سوی suy ، خوی xuy
۵-(وی=oy)لکه: زوی zoy ، لوی loy
دوهم:د(و=w) په مرسته جوړشوي غبرګغړونه:
۱-(او=ɑw) لکه: لو lɑw ، پلو pɑlɑw
۲-(آو=áw) لکه: کړاو kɑráw ، پړاو pɑráw
۳-(و=wə) لکه: یو uəy ، کټو kɑtow
۴-(یو=ew) لکه: دیو dew ، لیو lew
۵-(یو=iw) لکه: تریو triw ، نیو Niw

یادونه: بیواک غبرګغړونه یا کلسترونو هم لرو. هغه غبرګغړونه دي چې ددوو یا زیاتو بېواکو اوازونو د یو ځای کېدو څخه مېنځ ته راځي بېواک مرکب اوازونه یا کلسترونه یې بولي. لکه: شپه spa ، لمر lmɑr ،میاشت myást

ګړ پوهنه یا علم صرف(Morphology):

صرف یا مورفولوژي دګرامر هغه برخه ده، چې په هغه کې دیوې ژبې ټاکلي مورفیمونه، دهغوی جوړښت ،ترکیب، ګردان اود هغوی ډولونه ترڅېړنې او مطالعې لاندې نیول کیږي.

ګړ یا مورفیم: هغه کوچنی ژبنی مانیز واحد دی که تجزیه شي خپله مانا له لاسه ورکوي او دهغه له تجزیه کیدو څخه بې مانا اوازونه لاس ته راځي اویا په لنډ ډول باید وویل شي:
مورفیم یو نه تجزیه کیدونکی مانا لرونکی واحد دی.

مورفیم او څپه:

څپه د هجا یا سیلاب په مانا ده. کله که مورډ د مورفیم څخه بحث کوو نو دڅپې موضوع حتماً را منځ ته کیږي، ځکه چې څپه د مورفیم یو جز دی.
څپه یا سیلاب ژبنی واحد دی، چې یا یو خپلواک وي اویا له یوه خپلواک اویوه یا څو بیواکو څخه جوړوي او په یوځایي ډول له خولې څخه راووځي.
لکه: د(ابا) کلمه چې دوې څپې لري، چې لومړۍ (آ)یوه څپه یو خپلواک غږدی او دوهمه (با) بله څپه ده، چې له یوه بیواک (ب) اویوه خپلواک (ا) څخه جوړه شوې ده او په ګډه سره دواړه یو مورفیم جوړوي او که چیرې تجزیه شي بې مانا غړونه یاني اوازونه لاس ته راځي.
خپلواک یا واول اواز دڅپې په جوړښت کې رغنده او اساسي رول لري په دې مانا چې پرته له خپلواک آواز څخه څپه نه شي جوړېدای یانې خپلواک آواز د څپې زړی یانې هسته جوړه وي.
څپه په دو ډوله ده:

الف: وازه څپه:

هغې څپې ته وايي، چې په خپلواک اواز پای ته رسيدلې وي.

لکه: ابا = ábá - زه = zə - ته = tə - بيا = byá

ب: تړلي څپه:

هغې څپې ته ويل کيږي، چې په يوه بيواک اواز پای ته رسيدلې وي.

لکه: مور – mor خور – xor – کټ kat خپل xpəl .

مورفيم او کلمه:

کلمه يو رواني واحد دی، چې بيل ويل کيږي او ليکل کيږي او لغوي مانا لري خو مورفيم يو لفظي واحد دی، چې لغوي او ګرامري مانا لري مورفيم کله بيل او کله ديوې کلمې دجز په توګه راتلای شي.

دبيلګې په توګه کتابچه يوه کلمه ده، چې له دوو مورفيمونو (کتاب) او (چه) څخه جوړه شوې ده، ياني کتاب يو مستقل مورفيم او چه يو تصغيري روستاړی دی، چې يو نا خپلواک مورفيم دی نو پدې توګه کتابچه يوه کلمه ده او چه له دوو مورفيمونو څخه جوړه شوې ده.

دګړيا مورفيم ډولونه:

مورفيم په لومړي سرکې په دوو لويو څانګو ويشل کيږي:

١- خپلواک يا آزاد يا غير مقيد مورفيمونه

٢-نا خپلواک يا تړلي او يا مقيد مورفيمونه.



فعلونه نومونه تاړي(وندونه وييکی(ادات (قيدونه

مورفيمونه الف: تړلي مقيد:

او برخې، چې په ځانګړي او مستقل ډول د استعمال ديوې ژبې وينا او عبارت کې هغه وړې توټې خپلواک ډول استعمال شي هيڅکله هم مانا نه ورکوي نو ځکه تړلي ورنه دي. ياني که په ځانګړي او کيږي مورفيمونه بلل.

مورفيم او (ونه) لکه دکتابونو کلمه، چې له دوو مورفيمو څخه جوړه شوې ده (کتاب) يو خپلواک

توګه کومه مانا نه دجمعې روستاړی دی که چیرې دکتاب د کلمې څخه لرې کړای شي په خپلواکه
. ورکوي
خپلواکه کلمې دادي تړلي مورفيمونه يا نا:
دي،چې دکلمو اړوند توب لپاره په کلام کې دکلمې څخه دمخه سريني: هغه نا خپلواکه کلمې -۱
. ليکل کيږي راځي دکلمې سره يو ځای نه
. نور دکلمې په ماناکې کوم تغيرنه پېښوي. لکه: (له،په،پر،د،له،و) او
(ها پسينې يا اوستريلونه(پسينه -۲:
راځي او دهغه نوم دريځ او څرنګوالی بيانوي– هغه نا خپلواکه کلمې دي،چې تريوه نوم وروسته
.ښندي دکلمې په مانا باندې کو م اثر نه
لکه: (کې، پسې ،سره،ته، باندې،کره، پرته اونور
)
په لاندې جملو کې وګورئ د سرينو او پسينو څو مثالونه
:
.زه په ښوونځي کې يم -۱
. برى حاصليږي په زيارسره -۲
.په چا پورې مه خاندئ -۳
.دخبرو لپاره وخت نه لري -۴
.ترښونځي پورې ځم -۵
.بې اوبو څخه ژوند نشته -۶
و تا ته مې وويې -۷

مورفيمونو سره د يو ځای والي او تاړي(وندونه): هغه تړلي او مقيد مورفيمونه دي،چې ازادو
:چې په لاندې ډول دي پيوستون له کبله دهغو مانا او مفهوم څرګندیدا ی شي
پښتو يې مختاړي بولي هغه نا مختاړي:- چې په عربي يې سابقه په فارسي پيشوند او په -۳
پيوست راځي او دکلمې مانا ته تغير خپلواکې کلمې دي،چې دکلمې دريښې څخه دمخه دکلمې سره
.ورکوي
.پسوند او په پښتو يې روستاړي بولي روستاړي: چې په عربي يې لاحقه -۴
دريښې سره پيوست راځي او دکلمې مانا ته تغير هغه ناخپلواکې کلمې دي چې دکلمې څخه وروسته
: ورکوي. لکه
ليکوال ، پوهنه+تون= پوهنتون = ليک+وا ل
.نور پوهن+ځی= پوهنځی او داسې
particles (وييکي)ادات) -۵
:ګردانيدونکو مورفيمونو يوه مهمه برخه ده او په لاندې ډول دي ادات دنه

(الف: اړیک وییکي (ارتباطي:

ادات دڅومره والي، څرنګوالي او ورته والي له مخې دوه جملې سره نښلوي له ډېریو سره دغه . چې) هم ملګرې کیږي او په ګډه دډوو ټوټو یا فقرو اړیکې سره ټینګوي(

....،ځکه چي ،که څه هم ،بیاهم، همداراز،څو ، همدارنګه،مګر لکه څومره

(ب: ورتني (تشبهي) ادات:

پدیدو ته ورته والی او مشابهت ویل کیږي،چې د دوو یا زیاتو ښیزونو او هغو اداتو ته

.. غوندې ،په څیر ،په رنګ ،په شان ،په دود ، په توګه، په راز :ښیي؛لکه

(ج: تړوییکي (دعطف ادات:

. (جملې سره یو ځای کوي. لکه: (او ،که،یا ،سره چې کلمې او

وای زه او ته مثال: باغ وای دګلونو ډکې ناست

غوړیدلی باندې ملاست وای زه او ته ګل وای

-:(داضافت توري) د: تولوییکي

او پدیدې سره اړوندوي او ملکیت ښیي پښتو یوازې د هغو اداتو ته ویل کیږي،چې ښیزونه . دی له (د) څخه اضافت یو توری لري، چې هغه عبارت

مثلا : داحمد قلم، دشپانه رمه ، دژورنالیزم پوهنځی

:نامقید)مورفیمونه) خپلواک

: لویو برخو ویشل کیږي ګردانیدونکي مورفیمونه په دوو

د نوم صرف -۱

دفعل صرف -۲

له زماني دارتباط څخه د راز راز ښیزونو او پدیدو څرګندونه کوي. لکه: نوم:- هغه کلمه ده چې بې .،دوه او نور تیره،ښایست

:نوم په عمومي ډول د دریو اړخونو له مخې ګردانیږي. لکه

عدد او حالت . خو ضمیر برسیره په جنس د شخص له پلوه هم ګردانیږي. لکه متکلم ،مخاطب جنس او غایب.

: دجنس په لحاظ دنوم ګردان

کیږي. په پښتو کې دنارینه نوم دجنس څخه مطلب دادی،چې نوم په نارینه او ښځینه باندې ویشل : په ترتیب سره وروسته ښودل کیږي او ښځینه نوم لپاره ځانته نښې او علامې موجودې دي، چې

:نښې دنارینه(مذکر) نوم

علامې راغلې وي دجنس په ټول هغه نومونه او صفتونه چې په پای کې یې دغه وروسته نښې او . لحاظ مذکر نومونه ګڼل کیږي

اصل توري یانې کانسوننټ غږ ختم وي او سماعي مؤنث نه وي مذکر ګڼل هغه ټول نومونه،چې په -۱ لاس، اور، کټ، او نور کیږي ؛ لکه: میز،

پسرلی ، توریالی دیفتانګ ختم وي.لکه سړی، زمری (αy) ټول نومونه،چې په نرمه (ی) یا -۲ اونور.

... شفتالو څرکند واو. لکه: تالو، چاکو، سالو، باړخو، پټو، -۳
.....زورکی (ه-   ) لکه زړه، نیکه، پسه، لیوه، تره -۴
پړاو دیفتانګ. لکه: کړاو، (áw) آو -۵
Niw ـــــ نیو triw تریو : دیفتانګ. لکه iw -۶
dew دیو lew لیو : دیفتانګ. لکه ew -۷
xuy خوی buy دیفتانګ. لکه: بوی uy -۸
pấy پای zấy دیفتانګ. لکه: ځای uy -۹
soy سوی zoy زوی : د یفتانګ. لکه oy -۱۰
: ښځینه (مونث) نوم
دغه وروسته ښځینه نښې او علامې راغلې وي د جنس په توګه هغه نومونه او صفتونه، چې په پای کې یې
: لحاظ مؤنث نومونه بلل کیږي
، بیدیا ؛ لکه: لیلا، ښځا، خندا، ژړا (ά) الف -۱
غرمه، سترګه، پاڼه، ګوته، لښته : لکه (α) (څرګنده (ه -۲
دیفتانګ. لکه: ملالۍ، تورپیکۍ، کرکۍ، ډوډۍ (əy) = (تانیثي (ۍ -۳
، خوابنې، ملګرې، ادې خپلواکه غږ: ناوې. e = (ې) مجهوله -۴
خپلواک غږ یا څرګنده (ي)، په نسبتي صفاتو کې (i=) د(ي -۵
.، بیاتي لکه: خپلوي، ښادي، دوستي
....ورشو، بیزو، زانګو، ښارو : لکه (o) اوږد واو -۶
دیفتانګ ؛ لکه: کټو (w) د -۷
: یادونه
نوم د پای نښه او علامه ده، د حقیقي معنوي مؤنثا تو نښه او علامه ده. کانسوننت، چې مفرد مذکر -۱
.....مور، خور، ترور، لور :لکه
په استثنایي ډول په ځینو کلمو کې د مفرد زورکی (ه-   ) ؛ لکه: چې مفرد مذکر نوم د پای نښه ده، -۲
...چاړه، ویاله، خوله، ترله : مؤنث نوم علامه هم ده.لکه
:همدارنګه
کې په استثنایي ډول د چې مفرد مؤنث نوم د پای نښه او علامه ده په بې قاعدې نومونو (ά) الف -۱
. مفرد مذکر نومونو لپاره هم راځي
......لکه: ماما، کاکا، لالا، ملا
په نسبتي او مغایره حالت کې د مفرد مذکر نوم د پای څرګنده (ي). چې مفرد مؤنث نوم د پای نښه ده -۲
. نښه جوړیږي
.....، مزاري، ننګرهاري، سړي، زمري، بریالي لکه: کابلي

د عدد په لحاظ د نوم ګردان
د عدد څخه مطلب او مراد دادی چې نوم مفرد دی او که جمع

۱- مفرد نوم: هغه نوم دی، چې په یوه شخص یا په یوه شي دلالت کوي.
لکه: هلک
۲- جمع نوم: هغه دی، چې د یوه څخه په زیاتو دلالت کوي.
لکه: هلکان ،نجونې، څانګې ،خنداوې.
الف: د نارینه (مذکر) نوم د جمع کولو نښې او علامې.
د غه وروسته نښې او علامې، چې مفرد مذکر نومونه جمع کوي په دې ډول دي:
۱- د(آن = án) روستاړي (پسوند) ؛ لکه:

مفرد	جمع
هلک	هلکان
پړانګ	پړانګان
مچ	مچان
لیوه	لیوان
کارغه	کارغان
آس	آسان

۲- د(ونه Una) روستاړی (پسوند) : لکه:

مفرد	جمع
کتاب	کتابونه
قلم	قلمونه
لاس	لاسونه
کنډو	کنډوونه
پسه	پسونه

۳- د(ي- i) واول: کوم مفرد مذکر نومونه، چې (αy) په دیفتانګ پای شوي وي جمع یې په څرګنده (ي) سره جوړیږي. لکه:

مفرد	جمع
پسرلی	پسرلي
ملګری	ملګري
ستوری	ستوري

۴- زورکی (ه-) یا کوچنۍ (ه) ؛ لکه:

مفرد	جمع
غل	غله
مل	مله

په ځینو یو هیجایي نومونو یا صفتونو کې، چې لنډ (و) یې په منځ کې راغلی وي د غه د منځ (و) په (الف) بدلیږي او په پای کې د زورکي په زیاتولو جمع کیږي.

مفرد	جمع
کوڼ	کاڼه
شپون	شپانه
بیلتون	بیلتانه

۵-ګان(gάn) ؛ لکه: ماما ګان ، کاکاګان ،ساده ګان

۶-یان(yan) ؛ لکه: میرزایان ،ملایان،اشنایان

ب:- دښځینه(مؤنث) نوم دجمع کولو نښې او علامې:

دغه نښې او علامې،چې مفرد مؤنث نومونه جمع کوي په دې ډول دي:

۱-داوږده یا مجهوله(ې) واول:(پرته له ساده،لوده،پیاده) مشترکه صفتونو څخه ټول هغه مفرد مؤنث نومونه،چې په(α) باندې ختم وي په جمع کولوکې یې(α)په(ې) باندې بدلیږي.

مفرد	جمع
ونه	ونې
لښته	لښتې
میاشت	میاشتې
ستن	ستنې
خوله	خولې

۲-دزورکي واله (ۍ،) دیفتانګ. لکه:

مفرد	جمع
ډوډۍ	ډوډۍ
څپلۍ	څپلۍ
نارو غي	ناروغۍ
خوشحالي	خوشحالۍ
وداني	ودانۍ

۳-ګانې او وې (gάne- we) روستاړی(پسوند) ؛ لکه:

	مفرد	جمع
خندا	خنداګانې یا خنداوې	
ژړا	ژړاګانې یا ژړاوې	
بلا	بلاګانې یا بلاوې	
بوډۍ	بوډۍ ګانې	
انۍ	انۍ ګانې	
رادیو	رادیوګانې	
بیزو	بیزو ګانې	

پرته له(میرزا ،اشنا،ملا) څخه،چې مفرد مذکر کلمې دي او جمع یې د(یان) په روستاړي سره جوړیږي.

۴- د(انې- áne) روستاړی یانې پسوند ؛ لکه:

مفرد	جمع
کابلی	کابلیانې
دوبی	دوبیانې
ګونګی	ګونګیانې
لمسی	لمسیانې

۵- د (ینډې yande) روستاړی یانې پسوند:

نومونې نښه حقیقې مانوې مؤنثات جمع کوي ؛ لکه:

مفرد	جمع
مور	میندې
خور	خویندې
ترور	ترینډې
نږور	نږینډې

۶-(یانې - yáne) ؛ لکه: میرزایانې ،ملایانې، آشنایانې

دنوم حالتونه:

دنوم حالت څخه مراد دادی،چې نوم په خپل چاپیریال کې دکومو حالاتو درلودونکی دی. نوم چې په جمله کې استعمالیږي دا لاندې حالتونه لري:

۱- فاعلي حالت:

که چیرې نوم په جمله کې فاعل واقع شي یانې کار او عمل ترې صادر شي حالت ته یې فاعلي حالت وایي.

لکه:رفیع سبق وایي. شاه محمود لیک کاږي. .زرمینه کارکوي.

په پورته مثالونو کې (رفیع، شاه محمود ،زرمینه) په جملو کې فاعل واقع شوي دي،چې فاعلي حالت لري.

۲- مفعولي حالت:

که چیرې یو نوم په یوه جمله کې مفعول واقع شي یانې پر هغه پای ته ورسیږي. هغه نوم ته مفعول ا و حالت ته یې مفعولي حالت وایي ؛ لکه:

توریالی ډوډی خوري. پلوشه مقاله لیکي.

په پورته مثالونو کې (ډوډی اومقاله) نومونه مفعول واقع شوي دي او حالت ته یې مفعولي حالت وایي .

۳- اضافي حالت:

که چیرې یو نوم په جمله کې مضاف الیه واقع شي اویا دا چې یو څه ورپورې اړه ولري ،د نوم دغه حالت ته اضافي حالت وایي. په یو اضافي ترکیب کې لومړی د اضافت توری (د) ورپسې مضاف الیه اوبیا مضاف راځي.

لکه: دزرمینې کور ښکلی دی. پدې جمله کې (زرمینې کور) اضافي ترکیب دی چې (د) اضافت

توری (زرمینه) مضاف الیه او (کور) مضاف دی.
یا لکه: زما کتاب ،ستا کتاب، د ده کتاب، دهغه کتاب، دهغې کتاب.
یادونه: که چیرې مضاف الیه د (مې،دې،یې) ضمیر واقع شي په دې صورت کې داضافت (د) نه راځي او د دري ژبې په څیر لومړی مضاف او بیا مضاف الیه راځي؛ لکه: کتاب مې ورک شو، پدې جمله کې (کتاب مې) داضافي ترکیب بڼه لري، چې (کتاب) مضاف او (مې) ضمیر مضاف الیه واقع شوی دی. په همدې ډول کتاب دې ،کتاب یې.

۴- ندايي حالت:

که چیرې یو نوم ته بلنه یا غږ شوی وي. بلننوم یا منادي بلل کیږي او حالت ته یې ندايي حالت وايي
.

په ندايي حالت کې دمذکر نوم په آخر کې (α) او د مؤنث نوم په پای کې (ې) زیاتیږي. لکه:
احمد! ، اې مسلمانانو! ، زلمیه! ، فاطمې! ، زرغونې! و داسې نور

۵- ارتباطي حالت:

کله که یو نوم د ارتباط له اداتو سره استعمال شي او دارتباط ادات ورڅخه دمخه یا وروسته راشي نو هغه نوم ارتباطي حالت لري. مثلاً:
له کوره راغلم ، بازار ته ځم.
په دغو مثالونو کې (کور او بازار) نومونه ارتباطي حالت لري.
یادونه: دنوم یا ضمیر داصلي بڼو سرهیڅکله دارتباط توری نه استعمالیږي.
دنوم څلورګونې ډلې:
په پښتو ژبه کې نوم څلورګونې ډلې دادي:
۱- څیز نوم اسم شی)
۲- ستاینوم (اسم صفت)
۳- شمیر نوم (اسم عدد)
۴- نومځری (اسم ضمیر)

نوم او د هغه ډولونه:

نوم چې ژبپوهان یې اسم بولي یو داسې نوم دی. چې یو ځای ،شی یا پدیدې نومونه او څرګندونه کوي او دا وروسته ډولونه لري:
۱- عام نوم: داسې څیز یا پدیده نوموي، چې ځانګړی او خاص نه وي بلکې ډولونه او خیلونه ولري؛
لکه: هیواد ، ولس، هلک ،نجلۍ ،څاروي.......
۲- خاص یا ځانګړی نوم: چې ځانګړی څیز یا پدیده، شخص یا ځای نوموي. لکه: عبید ، نظیفه،افغانستان ، کندهار..........
۳- جمع نوم: چې یوه ډله او جمیعت نوموي.
لکه: ټولګی ،لښکر ،رمه،ګوند ،ټبر ، غنم........
۴- جنس نوم: چې په یو نه شمیر یدونکي څیز اړه لري.
لکه: اوبه ، غوړي، تیل.......

۵- دمانا نوم: هغه نوم ته وايي، چې په غير محسوس څيز اړه لري او مادي وجود نه لري. لکه: پوهنه ،ښايست، فکراو ويره.............

۶- ذات نوم: چې په يو حس کيدونکي څيز پورې اړه لري يا په بله وينا داسې يو څيز، چې زموږ په حواسو حس کيداى شي: لکه. ونه ،تيږه ،اوبه.........

۷- صوت نوم: چې طبعي(پنځي) يا مصنوعي اوازونو انګازه نوموي.
لکه: درزهار، ترپهار،.......

ستاينوم او دهغه ډولونه:

ستاينوم (صفت) په خپلواک ډول څه نه نوموي بلکې د يو شي ځرنګوالى بيانوي. لکه: روغ ، غښتلى ،کمزورى، ښايسته ، تور او سپين........

په پښتو ژبه کې صفت دلوړتيا دپوړونو ياد لړوالي ،ډيروالي بيلابيلې ښکاره درې ګونې درجې نه لري. لکه په دري ژبه کې(خوب، خوبتر،خوبترين) (بد ، بدتر، بدترين) له دې امله په پښتو ژبه کې يو صفت د اداتو په ملتيا خپله درجه او طبقه ښکاره کوي. لکه: (ښه، ډير ښه، خوراښه)،(سپين،ډيرسپين، لاډيرسپين) يا زښته ډير.

صفت دا ورسته ډولونه لري:

۱- اصلي صفت: چې ديونوم ذاتي ښه والى او بد والى ښکاره کوي.
لکه: ښه ،بد ، سپين ، تور...............

۲- نسبتي صفت: چې يو بل نوم ته يې نسبت شوى وي.
لکه: کندهاري ،يوسفزي ،کورني.....

۳- عددي صفت: هغه کلمه ده، چې دهغوى په واسطه ديو شي شمير او اندازه معلوميږي. لکه: دوه ، پنځه ،لسم ، شلم، دوه لاسونه او نور.......

۴- استفهامي صفت: چې دپوښتنې په وخت کې استعماليږي او موصوف ورسره راغلى وي. لکه:
څومره غنم دې پکار دي ، کوم هلک پوه ده ،
څو کتابونه اخلې.....

۵- فاعلي صفت. لکه پالونکى ،تلونکى ، تللى ، ګرځيدلى.

۶- مفعولي صفات. لکه: ساتلى، ليکلى ،پرې شوى ،وهل شوى.

۷- اشاري صفتونه: هغه کلمې دي، چې دهغو په واسطه يونوم ته اشاره شوې وي او هغه ته اختصاص ورکړى شي.
لکه: دغه باغ د انګورو دى. دا ونه ښه سيورى لري.

۸- مجرد صفتونه: هغه ته وايي، چې په خارج کې کوم مادي وجود ونلري او خالي وصف او حالت ترې مراديږي.
لکه: ليونتوب،هوښيارتوب، روغتيا ،اوږدوالى.

يادونه: په پښتو ژبه کې صفت د خپل موصوف څخه د مخه راځي او صفت د خپل موصوف سره د جنس عدد او حالت له پلوه ګردانيږي او صفت د خپل موصوف سره سمون ښيي.

شمیر نوم(اسم عدد) او ډولونه يې:
عدد هغه کلمه ده، چې د شيزونو شمیره بیانوي په خپلواکه توګه کومه نومونه نه کوي ،بلکې په یوه شيزنوم پورې اړه لري. خو ستاینوم غوندې يې څرنګوالی نه ښيي بلکې څومره والی او پوړوالی ښيي
.

د شمير نوم ډولونه په دې ډول دي:
۱- اصلي عدد .لکه: يو ، دوه، درې ،څلور،پنځه........
۲- وصفي یا رتبيي عدد. لکه: لومړی ، دويم ، دریم ، څلورم......
۳- کسري عدد: چې داړونده شيز نوم ماتوالی او برخه والی ښيي.
لکه: يو پردوه،دوه پر څلور،درې پر پنځه ، درې پر څلور........
۴- انقسامي یا تقسیمي عدد: چې مربوط شيز نوم ویشنه او جوړه کیدنه څرګندوي. لکه: يويو ، دوه دوه ، درې درې ، څلور څلور ، پنځه پنځه..........
۵- تخمیني عدد: چې د يو شيز نوم یانې معدود پر ځای غبرګ غبرګ شيز نومونه راوړي او يو هم نه ټاکي.
لکه: يو دوه ، دوه درې ، درې څلور ، څلور پنځه.........
یادونه: په پښتو ژبه کې عدد تر معدود د مخه راځي او لږ ډیر ګردانیږي په پښتو ژبه کې (يو او دوه) د جنس له پلوه د خپل معدود سره سمون ښيي خو نور اصلي اعداد د خپل معدود سره مطابقت نه ښيي .لکه:

مذکر	مونث
يو کتاب	یوه کتابچه
دو کتابونه	دوه کتابچې
درې قلمونه	درې کتابچې
څلور قلمونه	څلور کتابچې

نومځری (ضمیر):
نومځری هغه کلمه ده، چې د يو نوم ښکارندو يي کوي او دنوم پر ځای استعمالیږي او یا يې دتکرار مخنیوی کوي.
ضمیر دنورو نومونو پر خلاف دجنس ، عدد او حالت سر بیره د شخص یانې متکلم ، مخاطب، غایب له پلوه هم ګردان مومي.
د ضمیر ډولونه:
ضمیر په پښتو کې لاندې ډولونه لري:
۱- شخصي ضمیرونه: هغه ضمیرونه دي، چې عموما د اشخاصو پرځای راځي او يو له دریو اشخاصو څخه ښيي.
د استعمال له مخې شخصي ضمیرونه په دوه ډوله ويشل کیږي:
الف: غښتلي (قوي) یا مفصل ضمیرونه:
هغه ضمیرونو ته ویل کیږي، چې يو ازې (خپلواکه) توګه استعمالیږي او دبلې کلمې سره پیوست او

متصل نه راځي ددغو ضميرونو مفرده بڼه دوه حالته لري:
ياني اصلي حالت او غير اصلي يا مغيره حالت. لکه په لاندې جدول کې:

منفصل شخصي ضميرونه:

شخص			جمع
	اصلي حالت	غير اصلي حالت	
متکلم	زه	ما	موږ
مخاطب	ته	تا	تاسي
غايب	دی	ده-	دوی
	دا	دې	

ب: کمزوري (ضعيف) يا متصل ضميرونه:
هغو ضميرونو ته ويل کيږي، چې په خپلواکه توګه کومه مانا نه ورکوي او خپله مانا او مفهوم دنورو نومونو او کلمو سره د يو ځای والي په صورت کې په ډاګه کوي.

کمزوري شخصي ضميرونه:

شخص	مفرد	جمع
١	مي	مو
٢	دي	مو
٣	يې	يې

٢- ملکي يا اضافي ضميرونه:
عبارت له هغوضميرونو څخه دي، چې ديو شي ملکيت او متعلقيت بيانوي. لکه:

شخص	مفرد	جمع
١	زما	زموږ
٢	ستا	ستاسي
٣	دده	د دوی
	ددې	

۳-اشاري ضميرونه:

هغو ضميرونه ته وايي، چې وګړو او ځيزونو ته اشاره کوي.

	مفرد		جمع	
واټن	اصلي حالت	غير اصلي حالت	اصلي حالت	غير اصلي حالت
لنډ	دغه-α	دغه-ə	دغه-α	دغو
	دغه-α	دغې-e	دغه-α	دغو
لر	هغه-α	هغه-ə	هغه-α	هغو
	هغه-α	هغه-e	هغه-α	هغو
لا لر	هوغه-α	هوغه-ə	هوغه -α	هوغو
	هوغه- α	هوغې-e	هوغه -α	هوغو

پوښتني يا استفهامي ضميرونه:

چې داشخاصو او ځيزونو پر ځای د پوښتني په وخت کې استعاليږي. لکه:

۱- څوک (چا)   څوک راغی؟   چاوويل؟

۲- کوم (کومه)   کوم سړی راغی؟   کومه ښځه راغله؟

۳- کله .   (مهال او زمانه پوښتي او ګردان نه لري) کله راځي؟

۴- چيرته   (ځای پوښتي او ګردان نه لري) چيرته تللی وي؟

۵- څنګه   چې ديو وګړي يا شي او يا عمل څرنګوالی پوښتي.

څنګه کاردې وکړ؟

۶- څه   د ډېرې ديو شي يا وګړي پېژندنه پوښتي او د ډېرې جنس نوم پورې اړه لري او ګردان نه لري

.

۷- څو   چې د وګړو يا شيانو شمير پوښتي.

۸- څومره   چې ډېرې داشياوو او وګړو شمير او دجنس د څرنګوالي، کيفيت او مقدار پو ښتنه کوي.

۹- ولې   چې ديو عمل او پيښې عامل او سبب پو ښتي.

نا جوت يا مبهم ضميرونه:

چې د نامعين وګړي لپاره راځي. لکه:

هر   هر ځلمی کارکوي

بل   بل څوک راغی

نور   نور شاګردان راغلل

ټول   ټول هلکان درس لولي

يادونه: همدارنګه ځيني، هيڅ او څوک هم مبهم ضميرونه دي.

پلوي يا قيدي ضميرونه:

چي ديو چار (عمل) او فعل سمت او پلو د وګړو (اشخاصو) له پلوه ښيي او درې ګونې بڼې لري.

لکه : را	د متکلم لوری ښيي.	لکه:	راځم
در	مخاطب لوری ښيي.	لکه:	درځم
ور	د غايب لوری ښيي.	لکه:	ورځم.

کړول (قيد):

هغه ژبنی عنصردی، چي ديو فعل د پيښيدنې څرنګوالی ښيي. دا څرنګوالی د فعل د پيښيدلو ځای يا مهال ټاکي. ټينګار او داسې نورې ځانګړتياوې ښکاره کوي.

د قيد ډولونه:

۱- د زمان قيد (مهال) قيد : چي دمهال له مخې د يو فعل پيښيدنه څرګندوي. لکه: اوس، دمخه ،نن ،پرون.......

۲- د مکان (ځای) قيد : چي ديو فعل پيښيدنه د ځای ا و چاپيريال له مخې څرګندوي. لکه: دلته، هلته، مخکې، وروسته، کښته، پورته........

۳- څرګندنې او ټينګاري قيد: چي دفعل ټينګار ښيي.
لکه: په ميړانه ،په څرګنده، په منډه ،په ډاګه، څه نا څه، لږ او ډېر...............

۴- دشک قيود. لکه: ګوندې ، ښايي

۵- د علت قيود . لکه: ځکه ځي ، ولې نه کښيني.

۶- د وضيعت او حالت قيود. لکه: ژر ژر راځه، په ورو ورو ځه...........

فعل يا (کړ):

فعل د وينا ديو عمده جز په توګه هغه خپلواکه کلمه ده، چي په يوه زمانه کې ديو کار په کولو يا کېدلو دلالت کوي. دنوم او فعل تو پير په دې کې ده، چي نوم زمانې پورې اړه نلري او فعل نه بايد هرو مرو زمانه مرادوي.

لاندې مثالونو ته وګورئ:

حال زمانه	راتلونکې زمانه	ماضي زمانه
ذبيح خط ليکي	ذبيح به خط وليکي	ذبيح خط وليکه
لېمه درس لولي	لېمه به درس ولولي	لېمې درس ولوست
لطف الله کار کوي	لطف الله به کار وکړي	لطف الله کار وکړ

په پورته مثالونو کې وګورئ چي په حال زمانه ، راتلونکې زمانه او ماضي زمانه کې کار او چار ترسره شوی دی.

د شخص په لحاظ د فعل ډولونه:

په پښتو ژبه کې فعل د شخص څرګندونه کوي، په فعل کې د شخص د اړخ څرګندېدل هماغه تصريفي روستاړی دی، چي د فعل په اصل (ريښه) پورې نښلول کيږي. د بېلګې په توګه:

۱- متکلم فعل : زه ځم m

۲- مخاطب فعل : ته ځې - e

۳-غایب فعل : دی - ځي



په پورته فعلي ګردان کې (ام – ې- ي)د لومړي ، دوهم ، اودریم شخص مفرد حالت څرګندوي.

فعل دزماني په لحاظ:

فعل دزماني په لحاظ په دري ډوله دی:

۱- حال زمانه ۲- ماضي زمانه ۳- راتلونکې زمانه

۱- د حال زمانه فعل: هغه دی، چې په اوسنۍ زمانه کې دیو کا ر په کولو دلالت کوي. لکه: لولم ،غواړم ، ګورم.......

۲- مستقبل یا راتلونکې زماني فعل: چې په راتلونکې زمانه کې دیو کار په کولو دلالت کوي. لکه: وبه یې لیکم، وبه یې وینم، وبه یې خورم........

۳- د ماضي زماني فعل: چې په تیره زمانه کې پر یو کار دلالت کوي.
لکه: ولیده ، پاڅیده.....

مفرد	جمع
زه پاڅیدم	موږ پا څیدو
ته پاڅېدې	تاسې پاڅیدئ
دی پاڅیده	دوی پاڅیدل
دا پا څیده	دوی پاڅیدلې

فعل د مانا په لحاظ لاندې ډولونه لري:

۱- لازمي فعل: هغه دی، چې یوازې په فاعل تمامیږې او مفعول نه غواړي.

مفرد	نا تیره زمانه	جمع
زه پاڅیږم		موږ پاڅیږو
ته پاڅیږې		تاسې پاڅیږئ
دی پا څیږي		دوی پاڅیږي

۲- متعدي فعل: هغه فعل ته وايي، چې په جمله کې سربیره پر فعل او فاعل مفعول هم قبلوي.

لکه:	نا تیره زمانه	تیره زمانه
زه کتاب لیکم	ما کتاب لیکه	
ته کتاب لیکې	تا کتاب لیکه	

دی کتاب لیکي ده کتاب لیکه

۳- معلوم فعل:

که چیرې په جمله کې دیو فعل فاعل معلوم وي هغه ته معلوم فعل وایي.

لکه: ما زلمی ولیده ، زه زلمی وینم

دلیدلو فعل او اثر په زلمي واقع شوی دی.

۴- مجهول فعل:

که چیرې دفعل فاعل معلوم نه وي نو هغه ته مجهول فعل وایي.

لکه میاشت لیدل شوې هلک وهل کیږي.

۵- مثبت فعل:

چې دیو کار په کولو باندې دلالت کوي.

لکه: زه ځم زه هره ورځ لامبم

۶- منفي فعل:

چې دیو کار په نه کولو باندې دلالت کوي.

لکه: زه کورته نه ځم ځوک چې درس نه وایي ناکامیږي.

نحو (Syntax)

دلغت په لحاظ نحو د عربي ژبې کلمه ده، چې په پښتو کې ورته وینا پوهنه وایي او په انګلیسي ژبه کې یې سنتکس Syntax بولي.

په نحو کې دمفردو کلمو دیو ځای کیدو، د جملو جوړښت او قاعدې، په جملو کې دکلمو ترتیب یو له بله ارتباط او نور حالات ښودل کیږي.

جمله Sentence

د مورفیمونو او کلمو یو داسې ترتیب شوې مجموعه ده، چې یو بشپړ مفهوم او مطلب پرې پوهول کیږي.

دا چې خبرې یا وینا په جملو کیږي نو داسې یې هم پیژندلای شو:

جمله: دخبرو وینایا ګړهار هغه بشپړه خپلواکه رغاونه ده، چې ترې بله ستره رغاونه نشته. په بله وینا جمله د خبرو او وینا تر ټولو لوی واحد دی.

په پښتو ژبه کې یوه جمله د فاعل، مفعول، فعل او نورو اړونده توکونو څخه جوړښت مومي او په دې ډول پر دوو برخو ویشل کیږي.

چې یوه ته نوموال (اسمي) اوبل ته یې کړوال (فعلي) غونډ وایي.

د پازې او دندې له مخې نوموال غونډ ته ایینی (مسندالیه) او مبتدا یا نهاد او کړوال غونډ ته اینبونی (مسند) یا خبر یا ګذاره هم ویل کیږي.

نو دجملې اساسي برخې مبتدا او خبر دي. چې په ساده جملو کې مبتدا او خبر او یا دواړه د جملې اساسي برخه او بنسټ تشکیلوي. لکه:

۱- زده کونکي درس لولي.
۲- نجیب لاړ.
۳- ماهیان د دریاب په زړه کې نښیدل.
په پورته جملو کې: زده کونکي، نجیب، او ماهیان مبتدا او لولي، لاړ او نښیدل د خبر په توګه راغلي دي.

مبتدا:

د جملې اساسي برخه ده او معمولاً د یو شخص یا یو شي په باره کې معلومات ورکوي دجملو د جوړښت له مخې دا ویلای شو چې: نوم، ستاینوم، شمیر نوم، ضمیر او د کلام نورې برخې د مبتدا په حیث راتلای شي.

خبر:

دجملې د اساسي اجزاوو په دوهمه برخه کې خبر راځي په خبر کې فعل د خپلو اړوندو توکونو سره راځي په دې توګه ټول لوی او واړه یا خپلواک او نا خپلواک توکونه په یوه جمله کې را غونډېدای شي او د همدغه توکونو په کموالي او زیاتوالي سره وړې یا لویې جملې مینځ ته راځي.

عبارت:

دوې یا ډېرې خپلواکې کلمې، چې یوه دبلې تابع شي او مرکب مفهوم افاده کړي عبارت بلل کیږي. په عبارت کې یوه کلمه اساسي او بله کلمه یې تابع وي. لکه: د(شین اسمان) په عبارت کې (اسمان) اساسي کلمه او د(شین) کلمه د هغه تابع ده.
باید وویل شي، چې عبارت هیڅکله د جملې ځای نه شي نیولی دا ځکه چې عبارت پوره مطلب نشي بیانولی او همیشه نیمګړی مطلب را په ګوته کوي.

دجملې مانیز ډولونه:

په پښتو کې د جملې مشهور قسمونه دا دي:
۱- امریه جمله: چې په کښې د یو کار کولو حکم او غوښتنه شوې وي.
لکه ډوډۍ وخوره. دروغ مه وایه.
۲- پوښتني یا استفهامي جمله: هغه جمله ده، چې له چا څخه د یو کار یا یو حالت د پوښتنې په وخت کې ویل کیږي. کله ورسره د پوښتنې ادات راځي او کله نه او یوازې د آواز آهنګ او فشار په وسیله پیژندل کیږي.
لکه: ایا ستا ورور راغلی دی؟
خط دې ورته ولیکه؟
ستا کور چیرې دی؟
۳- بیانیه جمله: هغه جمله ده، چې دبلې جملې حال بیانوي. لکه:
پرون مې واوریدل، چې د پښتو کامیابانو ته انعام ورکوي.
۴- خبري جمله: چې دیو شي د حال او کیفیت څخه حکایت کوي. لکه:
دغه سړی زمرک نو میږي.
زما کور په کابل کې دی.

۵- ندایه جمله: چې د غږ کولو او خطاب په وخت کې منځ ته راځي او دا هغه جمله ده، چې د ندا حرف پکې وي: لکه: او هلکه ! یو ګیلاس اوبه راوړه.
۶- تمنايي جمله: هغه جمله ده، چې د تمنا داداتو او فعل نه جوړيږي او د يو شي هيله او ارمان پکې ښکاره شوی وي. لکه: کاشکې ته هم راغلی وای !
ارمان چې توريالی دلته وای !
۷- قسمتي جمله: هغه جمله ده، چې د قسم او لوړې کولو په وخت کې استعاليږي. لکه: قسم که دې پريږدم. په خدای که رانه خلاص شې.
۸- تعجيبي جمله: هغه جمله ده، چې د تعجب او حيرانتيا د ښکاره کولو لپاره استعماليږي. لکه: څه ښکلې منظره ده ! څه رنګ رنګ غرونه دي !
۹- شکي او احتمالي جمله: هغه جمله ده، چې د شک او احتمال ښودلو لپاره کارول کيږي.لکه: ښايي احمد راغلې وي.
۱۰- تأکيدي جمله: هغه جمله ده، چې د تأکيد لپاره استعاليږي. لکه:
خامخا به بريالی وينې. هرو مرو به موږ کره راځې.
د جملې جوليز ډولونه:
د جولې او څومره والي له مخې جمله په لاندې ډولو ويشل کيږي:
۱- يو ستوې (ساده مفرده) جمله:
هغه راز جمله ده، چې له مبتدا او خبر څخه جوړه شوې وي. يو ستوې جمله بيا په دوه ډوله ويشل کيږي:
آره يو ستوې جمله: چې مبتدا يې له يوه فاعل يا مفعول او خبريې له يوه فعل اود متعدي فعل په ترځ کې له يو مفعول او فعل څخه جوړ وي.
لکه: زمرک ځي. زرک اوبه څښي.
زما يو ملګری هيڅکله خپل کورنی کار نه هيروي.
ارته يو ستوې يا پراخه جمله: چې مبتدا او خبر يې له دوو توکونو څخه تيری وکړي او په دې توګه پکې زيات ارتوالی راشي. لکه:
د افغانستان اسلامي دولت يو کلتوري ډله دامريکا په بلنه هغه هيواد ته سفر کوي او نور.................................
غبرګه جمله: هغه جمله ده، چې د يوه مبتدا او يوه خبر پرځای دوه ، دوه مبتدا او خبر ولري. يا په بله وينا:
که د يوې پوهې او مطلب د بشپړتيا يا د دوو اړوندو مطلبو د ښکاره کونې له پاره سره دوې جملې په کوم ارتباطي ادات غبرګې او ملګرې راشي.
يوه غبرګه جمله منځ ته راوړي، چې يوه يې آره يا خپلواکه او بله يې څېرمه (فرعي) يا بې واکه بلل کيږي.
لکه: زما زوی اوه کلن (دی) او لور مې شپږ کلنه ده.
که شمال نه وي ــ ونه نه ښوريږي.

سمسور ایران ته لاړ ــ چې ځان ته کار مزدوري پیدا کړي.
چې ته راغلې ــ زه به ولاړ شم.

د ادب او ادبیاتو پیژندنه

د ادبیاتو د تعریف او پیژندنې په باب ډېر څه ویل شوي دي.
دعربي او خراساني پوهانو په اند :
ادب په لغت کې پوهې، زیرکۍ، اخلاقي تهذیب او فضیلت ته ویل کیږي. او په اصطلاح کې ادب هغه پوهه او ریاضت دی، چې انسان ته فضیلت ورپه برخه کوي او په خپلو کړو وړو کې یې له سهوې او ښویېدنې څخه ژغوري.
ددغو پوهانو په عقیده ادب پر دوه ډوله دی:
۱- فطري ادب: چې په ښو خویونو او معاشرتي تهذیب پورې اړه لري.
۲-اکتسابي ادب: چې له نورو خلکو څخه زده کیږي او د بلیغې وینا لارې چارې ښیي. اوسني ادبي کره کتونکي د ادب په برخه کې پر دغسې یادونو قناعت نه کوي.
لومړی دا چې ادب د اخلاق پوهنې (Ethics) له پلوه بېله مقوله ده او د ښکلا پوهنې (Aesthetics) له نظره بله مقوله ده.
دلته زیار ایستل شوی دی ، چې اخلاقي او استیتیکي مقولې سره توحید کړي.
دوهم دا چې اخلاق فطري نه دي ، بلکې دبلیغې وینا په څیر اکتسابي دي او له ټولنې څخه زده کیږي.
دیادو شویو پوهانو په نظر ادبي علوم هغو پوهنو ته ویل کیږي، چې د بلیغې وینا لارې چارې او اصول راښیي.
دوی د ادب د وېش په برخه کې یو شانته نظر نه لري ،ځینې یې پر اتو څانګو ، ځینې یې پر دولسو او ځینې نور یې پر خوارلس څانګو وېشي، ځینې پوهان د ادب دعلم اصول او فروع سره جلا کوي.
داادب د علم اصول دادي: لغت، صرف،نحو ،اشتقاق،معاني،بیان،بدیع، عروض او قافیه.
داادب د علم فروع دادي: خط،نقدالشعر(قرض الشعر)،انشاء،محاضرات، تاریخ او قصص،انساب،مسالک او ممالک،امثال،دواوین،اغلوطات او روایات د ادبیاتو کلاسیک مفهوم او ارزښت ؤ،چې د عربي او خراساني پوهانو له نظره څرګند شو.
په لویدیځه نړۍ کې ادبیات (Literature) د ټولو چاپي آثارو مجموعې ته ویل کیږي. د بېلګې په توګه طبي ادبیات هغو ټولو چاپي آثارو ته ویل کیږي،چې د طب په باره کې لیکل شوي وي.
که ادبیات د چاپي آثارو په مانا واخلو نو په هغه‌صورت کې به دادبیاتو په تاریخ کې د فزیک،هندسې،جغرافیې،منطق او داسې نورو پوهنو په باره کې هم معلومات ورکوو ، په داسې حال کې،چې دادبیاتو په تاریخ کې یوازې په ژبنیو هنري اثارو باندې بحث کیږي.
کله کله په عام مفهوم دیوې ژبې ټولو لیکلو آثارو ته هم ادبیات ویل شوي دي.خو اوس یې دغې لفظي او اصطلاحي تعبیر بدلون موندلی او ادب د اجتماعي علومو او فنونو دیوې سترې او مهمې څانګې په توګه هغه ژبنی هنر او فن دی،چې ټولنیز واقیعتونه او حقایق په کې د ژبې په وسیله د

ذهني تصويرونو او انځورونو له لارې ځرګندېږي ،که څه هم د ادبپوهانو له خوا په دې باره کې، چې ادب څه شي ته ویل کیږي؟

یو واحد او منل شوی پېژند (تعریف) نه دی وړاندې شوی،چې هر چېرې د هر چا له پاره د منلو وړ وي خو ډېری ادبپوهان ادب داسې تعریفوي:

ادب یو ژبنی هنردی،چې واقیعتونه په انځورونو کې وړاندې کوي.

د انځور (تصویر یا ایماژ) څخه مقصد دادی،چې ادب واقیعت کټ مټ او په مستقیمه توګه نه بیانوي، بلکې د ادبي اثر د لیکونکي له خوا په ښکلي او احساس پاروونکي شکل وړاندې کیږي. یا په بله ژبه نوښتګر (شاعر یا کیسه لیکونکي) له واقیعت څخه خپله انطباع او برداشت په عاطفي بڼه انځوروي.

د همدې مفکورې په اساس ویل کیږي،چې بیا جوړونه (بازآفریني) د ادب او په عام ډول د هنر یوه مهمه ځانګړنه ده. د ادب دغه ځانګړنه دتخیل په مرسته تر سره کیږي.

دادبي اثر (شعر،کیسه،ډرامه،طنز او داسې نورو) تر ټول عمده خاصیت د احساس انتقال دی. که یو ادبي اثر احساس ونه لېږدوي او داوریدونکي یا لوستونکي پر عواطفو اغېزه ونه کړي نو هغه ادبي اثر نه دی.

ادبپوهانو د محتوی له مخې ادبیات پر دوو سترو برخو ویشلي دي:

1. تخلیقي ادبیات
2. تحقیقي یا څېړنیز ادبیات

تخلیقي هنري یا (بدیعي) ادبیاتو ته اصلي او واقعي ادبیات وایي.

چې په هغو کې (شعر،لنډه کیسه، ډرامه،ناول،رومان،ادبي ټوټې،طنز او نور) شامل دي.

تحقیقي یا څېړنیز ادبیات دادبي آثارو د ماهیت، منشأ ، تکامل او ځرنګوالي په باره کې څېړنې کوي. تحقیقي ادبیاتو ته ادبپوهنه یا ادبي څېړنې ویل کیږي یا په بله ژبه تخلیقي ادبیات ژبني هنري آثار دي او تحقیقي ادبیات د دغسې آثارو په باره کې بحث او څېړنه ده.

نظم او نثر

نثر: په لغت کې پاشلو،شیندلو،تیتولو او خورولو ته وایي او په اصطلاح کې هغه کلام دی،چې د وزن له قیده څخه خالي او آزاد وي.

په خبرو اترو کې نثر دشعر او نظم نه رومبی دی، خو د پښتو ادب په لاس ته راغلو لیکلو آثارو کې شعر د نثر څخه دمخه میندل شوی او لاس ته راغلی دی.

دنثر لومړی اثر چې زموږ په تذکرو کې د هغه نوم ذکر شوی هغه د محمد هاشم سرواني د ((سالو وږمه)) نومیږي،چې ورک دی.

بیا په (612) هجري کال کې د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء څو پاڼې پیدا شوي دي.

ددې سند نه وروسته د روښانیانو په وخت کې مسجع نثر د میا روښان او اخون درویزه له خوا را

منځ ته شوی دی.
د (1000)هجري نه وروسته ورځ په ورځ نثر ساده شوی او هم یې پرمختیا موندلې او تکامل یې کړی دی ، چې ددې لوی ادیب او مبتکر په خپله خوشحال خان ؤ ،دنثر دا دوره تر (1300)هجري پورې رارسیږي.
په اوسنۍ دوره کې د مولوي احمد ،منشي احمد جان،میر احمدشاه رضواني او راوروسته د ماسټر عبدالکریم ،قیام الدین خادم،عبدالحی حبیبي، ګل پاچا الفت، صدیق الله رښتین، عبدالرؤف بېنوا ، عبدالشکور رشاد او د کوزې پښتونخوا لیکوالانو نثر ساده او روان دی.

نظم:

نظم په لغت کې د مرغلرو پیيلو ته وايي. او په اصطلاح کې هغه کلام دی، چې موزون او قافیه وال وي. یا په بل عبارت: نظم د هنري ادبیاتو هغې برخې ته وايي،چې په اشعارو کې مختلف مفاهیم پراته او د نثر نه یې توپیر وشي.

شعر:

عربو شعر داسې تعریف کړی دی:
شعر په لغت کې پوهې او خبرېدو ته وايي. اصطلاحاً هر بلیغ کلام او سپیڅلې خوندورې وینا ته چې وزن او قافیه ولري شعر وايي، نو وزن او تول د شعر مهم رکن دی.
صدیق الله رښتین شعر داسې راپیژني:
شعر د هغو لطیفو ، نازکو احساساتو ، تخیلاتو او هغو معانیو څخه عبارت دی،چې د موزونو او رنګینو الفاظو په جامه کې راوړل شي.
دالفت صاحب په وینا :
شعر هغه وینا ده،چې الفاظ یې ښکلي وي او ویونکي په کې فکر،پوهه، ذوق ، د زړه هیجان او د روح آغېزه سره ګډه کړې.
محمد صدیق روهي شعر داسې راپیژني:
د آهنګ لرونکو عبارتونو په واسطه د واقیعت تخیلي او بیا ځلي انځورولو ته شعر ویل کیږي.

د احسان طبري په اند شعر د څلورو ضروري شیانو درلودونکی وي:

1- مفکوره (اندېښه)
2- احساس
3- تخیل
4- آهنګ او وزن

د شعر ډولونه:

پښتو ژبه دوه ډوله شعرونه او نظمونه لري:

چې یو ډول یې اولسي او ملي شعرونه دي،چې ځانته خاص ملي وزن لري.
لکه: لنډۍ،ناري،کاکړې غاړې،نیمکۍ،بګتۍ،چاربیتې،بدلې او نور.
همدارنګه دوړې،متلونه،دکمکیانو وزمینې سندرې،ساندې،فالونه، للوګانې او نور هم داولسي ادب په چوکاټ کې راتلای شي.

بل ډول يې ديواني او عروضي شعرونه دي،چې د عربي او فارسي سره برابر په يوه قاعده ويل شوي دي.

په عروضي ډوله شعرونو کې: قطعه،رباعي،غزل،بوللــه يا قصيده،مثنوي، مربع، مخمس ، مسدس،ترکيب بند ،ترجيح بند او نور شامل دي.

پښتو ادبياتو تاريخ

دادب تاريخ پيژند(تعريف):

ادب تاريخ په عامه توګه د نړۍ او په خاصه توګه د يو هېواد او مليت د ادبياتو د پرمختګ لړۍ مطالعه او ترڅېړنې لاندې نيسي،کوم چې د تکامل په مختلفو ټاکلو او ځانګړو دورو او مرحلو کې څرګند شوی وي او همدارنګه د ځانګړو ليکوالانو اثار هم تر تحليل او څېړنې لاندې نيول کيږي.

يا په بله وينا:

ادب تاريخ په مختلفو سياسي،ټولنيز او اقتصادي پېښو کې د ادب پرمختيايي جريان تر څېړنې لاندې نيسي او په دغه جريان کې د مختلفو آثارو ارزښت او مقام ټاکي.

په لنډ ډول ويلی شو ،چې ادب تاريخ د ادبي جريان پرمختګ او مختلفې پديدې او ټاکلې دورې تر څيړنې لاندې نيسي.

د پښتو د ادبي تاريخ دورې

دادبي دورو وېش د پاره بايد يو منطقي معيار وټاکل شي ، ددغه معيار له مخې بايد د هرې دورې ځانګړتياوې وښودل شي، که چېرې هماغه معيار په ټولو ادبي دورو باندې د تطبيق وړ نه وي ، نو دادبي دورو تصنيف خپل اعتبار او ارزښت له لاسه ورکوي.

دپښتو ادبي تاريخ ليکونکو :(علامه عبدالحی حبيبي،استادصديق الله رښتين، نور محمد غمجن،دوست شينواری،محمد انور نوميالی، محمدصديق روهي...) دادبي دورو د ټاکلو دپاره د بېلو بېلو معيارونو څخه کار اخيستی دی،چې ددغو پوهانو او استادانو کار د قدر وړ دی.

د سرمحقق محمد صديق روهي د پښتو ادبياتو تاريخ (معاصره دوره) اثر کې د پښتو ادبي تاريخ په دريو عمده دورو وېشل کيږي.

1 - لرغونې دوره

2 – منځنۍ دوره

3 – معاصره (اوسنۍ) دوره

هره دوره په پړاونو وېشل کيږي.

لرغونې (پخوانۍ) دوره:

د تحريري اسنادو له مخې په ادبي تاريخ کې دغه دوره د امير کروړ سوري څخه پيليږي ،چې د امير پولاد سوري زوی ؤ ،چې په کال(139) هجري سنه د غور په مندېش کې امير شو او جهان پهلوان يې باله.

دپښتو ادب تاريخ دغه دوره تر شپاړسمې ميلادي پيړۍ پورې دوام کوي يانې د بايزيد روښان تر ظهور او پاڅون پورې رسيږي.

په شپاړسمې میلادي پیړۍ کې د پښتونخوا په ختیځه برخه کې د هند مغلي سلطنت په زمانه کې فیوډالي تولیدي مناسبات منځ ته راځي او په ادبیاتو کې هم بدلون لیدل کیږي.
د پخوانۍ دورې عمده موضوعګانې دنمانځنې سندرې ، ویاړنې (قومي تفاخر) ، ویرنې ،مینه ،ښلتون او اخلاقي ښوونې دي،چې په هغو کې پیچلي تخیلات او لفظي صنایع چندانې نه لیدل کیږي.
د غوریانو د واکمنۍ په دوره کې قصیدې جوړونه یو نوی پړاو ګټل کیږي. که څه هم قصیدې له درباري ادب سره نږدېوالی لري،خو په هغو کې د پښتنو قبیلو مشران او واکمنان د یووالي او قبیلوي قدرت د سمبولونو په توګه ستایل شوي دي.
شاعر د صلې او انعام د اخستلو له پاره شعرنه وایي،او نه په ستاینه کې له اغراق نه کار اخلي،د پښتو د لرغونو آریایانو د سندرو وزن ساتي،تر اوسه پورې پښتو شعر همدغه ځانګړتیا ساتلې ده ، یانې د شعر وزن د څپې (فشار-اکسینټ) او دهجاوو (سیلابونو) د شمېر په اساس ټاکل کیږي.
د پښتو ډېر زوړ او پخوانی شعر چې زموږ لاس ته راغلی دی دامیر کروړ سوري یو حماسي (Epic) شعر دی ،چې پټې خزانې د تاریخ سوري په حواله خوندي کړی دی ، دهمدې لاس ته راغلې حماسي شعر په استناد موږ د پښتو ادب تاریخ لرغونې دوره د (100) هجري څخه شروع کیږي. داسې ښکاري چې په سوریانو کې دپښتو شعر د اسلام له ابتدا څخه موجود ؤ ،ځکه چې د امیر کروړ د ژوند وخت پس له سل هجري څخه شروع کیږي.
ویاړنه د امیر کروړ جهان
زه یم زمری پردې نړۍ له ما اتل نسته
په هند و سند و پر تخار او پر کابل نسته
بل په زابل نسته
له ما تل نسته
غشی دمن مې ځي بریښنا په میرخمنو باندې
په ژوبله یونم یرغالم پرتښتېدنو باندې
په ماتېدو نسته
له ما اتل نسته
زما د بریو پرخول تاوییږي هسک په نمنځ و په ویاړ
داس له سوو مې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ
کړم ابوادونه ویجاړ
له ما اتل نسته
زما د توري ترشپول لاندې دي هرات وجروم
غرج وبامیان و تخار بولي نوم زما په اودوم
زه پیژندو یم په روم
له ما اتل نسته
پرمرو زما غشي لوېږي ډاري دښن را څخه

دهریوا د رود پرڅنډو څم تښتي پلن را څخه

رېي زړن را څخه
له ما اتل نسته
د زرنج سوبه مې د توري په مخ سور وکړه

په باداری مې لوړاوی د کول د سور وکړه

ستر مې تربور وکړه
له ما اتل نسته
خپلو وګړو لره لور پیرزوینه کوم

دوی په ډاډینه ښه بامم ښه یې روزنه کوم

تل یې ودنه کوم
له ما اتل نسته
پرلویوغرو مې وینا دروميي نه په څنډو په تال

نړۍ زماده نوم مې بولي پردریغ ستایوال

په ورځو شپو میاشتو کال
له ما اتل نسته

د پښتو دا زوړ شعر، چې دهجري دوهمې پیړۍ له لومړۍ برخې څخه راپاتې دی د ژبې اداء، لغاتو او کلماتو له مخې مخصوص رنګ لري او زموږ د اوسنۍ ژبې له محاوروي جریان سره توپیر لري. ډېر داسې لغات او سوچه کلمات په کې راغلي دي، چې اوس متروک او په عمومي محاوره کې نه استعمالیږي.

ددې شعر له لساني پلټنې څخه دا نتیجه په لاس راځي، چې په هجري لومړۍ او دوهمه پیړۍ کې پښتو ژبه د نورو ژبو له اختلاط سوچه او تر (400) هجري پورې یې دا سوچه توب او ښکلا ساتلی دی.

دمانا له پلوه هم دا لومړی شعر د حماسي اشعارو څخه، چې د دنیا د ادب یوه غوره برخه ده دا یو برجسته او غوره نښه ګڼل کیږي. د شاعر لوړ حماسي مقام او دده د توري غلبه او بری ښه تصویر کوي. شاعر د خپل پاخه شعر او غښتلي قریحې په مرسته خپله ویاړنه په داسې ډول کوي، چې یو توانا او مقتدر شاعر ته ښایي له دغې ویاړنې څخه د امیر کروړ مینه او د خپل تېر د پالنې احساسات ښه څرګندیږي.

د شعر عروضي کیف او وزن دا څرګندوي، چې پښتو ژبې پخوا د عروضو او بحر له پلوه هم پاخه اشعار درلوده او دغه مخصوص بحور له خورا زړې زمانې څخه په شعر کې موجوده وه.

په پایله کې دا ویلای شو، چې ددې شعر د ویلو پروخت پښتو په غور کې خپل ادبي پوخوالي ته رسېدلې وه. پښتو تر دې شعر دمخه باید ډېر ادبي مراحل تېر کړي وي، چې د (100) هجري کال په شاوخوا کې دې پوخوالي او متانت ته رسېدلې وي.

داچې موږ د امیر کروړ له کښلي شعرنه د مخه بل لیکلی منظوم یا منثور اثر په لاس کې نه لرو. ددې خبرې دلایل ډېر دي، خود ډېرو نه یو دلیل یې دادی، چې د تاریخ په اوږدو کې افغانستان تل د بهرنیو

یرغلګرانو تاڼوبې ؤ، نوممکن ددې تېریو او حملو له کبله دپښتو ژبې آثار له منځه تللي وي. داخبره یوازې د پښتو ژبې دادب په هکله نه بلکې دنورو خویندو ژبو په باب هم ویلی شو.

دپښتو ادب تاریخ لرغونې دورې ځنې نور شاعران او لیکوالان:

هاشم زید سرواني:

له امیر کروړ نه وروسته هاشم زید سرواني د هلمند په سروان په سنه (223هه) کې زیږېدلی او په بست کې یې د علماؤ او فصحاوو ځخه لوستنه وکړه.

داستاد حبیبي په قول: د هلمند سروان دهلمند د غاړو د هغو ښارو پورې اړه لري ،چې په هغو وختونو کې یې روڼ مدنیت درلود او اوس وران دی.

ابو محمد هاشم په پښتو ژبه یو کتاب کښلی دی،چې (سالو وږمه) نومېده او د عربي ژبو د اشعارو دفصاحت او بلاغت بیان په کې شوی دی.

نوموړي په عربي،فارسي او پښتو ژبه شعرونه ویل چې یوه بېلګه یې داده:

ژبه هم ښه وینا کاندې چې یې وینه
دخاوند په لاس کې زر او درهمونه
ژبور ورله ورځي وینا یې اروي
د درهم خاوندان تل وي په ویاړونه

شیخ بیټني (ح):

د پښتنو په لرغونو او سېدنځایونو کې یوه ډېره مشهوره تاریخي سیمه د سلیمان د غرونو لمنې دي. دغه د سلیمان غرونه په ځینو کتابونو او تاریخي اثارو کې د (کسې غره) په نامه هم راغلي دي.

دکسې د غره په لمنو کې د روزل شویو شاعرانو په ډله کې ترټولو معلوم پخوانی سړی شیخ بېټني دی،چې دژوند زمانه یې د دریمې هجري پېړۍ شااو خوا ټاکل کېدای شي او کېدای شي د (350 هه) کال په شااوخوا کې مړ وي.

دشیخ بیټني یو مناجات سلیمان ماکو په تذکرة الاولیاء کې راوړی دی. چې د پښتو د زړو اشعارو په لړ کې ډېر مهم شعر دی.

د شیخ بیټني مناجات دادی:

لویه خدایه، لویه خدایه — ستا په مینه په هر ځایه
غرولاړ دی درناوي کې — ټوله ژوي په زاري کې
دلته دي د غرو لمنې — زموږ کېږدی دي په کې پلنې
دا وګړي ډېر کړي خدایه
لویه خدایه، لویه خدایه

دلته لږ زموږ اوربل دی — وور کوګی دی وور بورجل دی
مینه ستا کې موږ مېشته یو — بل دچا په مله ئنه یو
هسک او مځکه نغښته ستاده — دمـــــړو وده لــــه تــا ده
داپالنه ستاده خدایه

لویه خدایه، لویه خدایه
دلرغونو شاعرانو په لړ کې شیخ اسعد سوري، چې د محمد زوی ؤ، چې په کال (420 هه) په بغن کې وفات شو.
ښکارندوی غوري، چې د غوریانو د سلطنتي کورنۍ پیاوړی شاعر او ادیب دی، د سلطان شهاب الدین غوري په زمانه کې یې ژوند کاوه (580 هه). نوموړی د احمد زوی دی. په پټه خزانه کې دده یو ښکلی شعر، چې پښتو ادب پرې ویاړي راغلی. دا شعر تقریباً (45) بیته کیږي مطلع یې داده:
د پسرلي ښکلونکي بیا کړي سینګارونه
بیایې ولونل په غرونو کې لعلونه ..
ملکیار غرشین د ښکارندوی هم عصر دی (580 هه). بېلا بېل مؤرخین لیکي، چې دی په ډهلي کې اوسېده او تر (581 هه) په هغه جنګ کې هم لیدل شوی، چې سلطان لومړی پلا په ملتان یرغل وکړ او په ډهلي کې وفات او د شیخ ابوبکر طوسي د مزار ترڅنګ ښخ دی.
دده یو شعر چې د جنګ په ډګر کې یې زمزمه کړ:

ښېتن مو مل دی　　اوس مو یرغل دی　　هېوادمومل دی
غازیانو ګوری　　ښېتن مو مل دی
توري تېرې کړئ　　دښمن مو پرې کړئ　　منګولې سرې کړئ
ځله به تښتو　　ښېتن مو مل دی
که ټینګ کړو زړونه　　په بري یونه　　چې زمري یونه
اسلام راڅخه　　ښېتن مو مل دی
غازیانو راسی　　ټول شا او خوا سی　　د شهاب په ملا سی
دښمن مو غوځ کی　　ښېتن مو مل دی

د ملکیار غرشین په دې رزمي سندره کې د اسلامي فاتحانو ستاینه شوې ده او د اسلام په تنګه د جنګېدونکو لښکرو د هڅولو او پارولو هڅه په کې شوې ده.
ملکیار غرشین د سلطان شهاب الدین غوري د زمانې سړی دی. کله چې سلطان شهاب الدین غوري د اسلامي فتوحاتو په منظور پر هندوستان لشکرکشۍ کولې نو دغه شاعر او عارف هم دده ملګری و.
تیمني:
دی هم د ملکیار غرشین او ښکارندوی هم عصر شاعر دی. د تیمني د قوم چې تخلص یې هم تیمني دی. د (580) په شا او خوا کې تېر شوی دی. دی د غوري غیاث الدین معاصر ؤ په زمیندا ور کې اوسېده.
د تایمني په نامه دا شعر په ملي وزم

نن زه غرېږم په صفت د سلطان
چې دی بادار غازي ملک د جهان

د فېروز کوه او غور رڼا له ده ده
هم د تېرو تورو برېښنا له ده ده
چې توره وکاږي چړتون کي خالي
غليم يې کله کړي په توره سيالي
غياث الدين د غور زمری عاليشان
د اسلام دين دده په توره روښان

قطب الدين بختيار:

د پلار نوم يې احمد او د موسی لمسی دی. دی يو عابد ، عارف او فاضل شخص ګڼل شوی دی. په قوم بختيار پښتون دی. او دده نيکه موسی هند ته تللی ؤ نو ځکه دده لمسی قطب الدين په هند کې ډېر شهرت لري. دی په (633 هه) کال او د بل روايت له مخې په (634هه) کال د عمر په (48) کال او په ډهلي کې ښخ شو ، چې ترا وسه يې مزار ډېر مشهور دی.

دده د شعر يوه نمونه:

وير مې زړه سوری کړ راته وګوره ملوکې
په بېلتون کې دې وباسم له خوږمنه زړګي کوکې
راته وګوره ملوکې
غوړه ولی دې اوربل دی اور زما په زړګي بل دی
زه بختيار خاورې ايرې شوم په اورسوی مې ګوګل دی
راته وګوره ملوکې

شيخ متي:

د لرغوني دورې يو بل يا د شاعر شيخ متي دی. دی د شيخ عباس زوی دی په (623 هه) کې زېږېدلی دی او بيا په (688 هه) کال د (65) کالو په عمر وفات شوی دی.
دی په کلات بابا هم شهرت لري، چې په هماغه غونډۍ کې دفن دی.
((خدای مينه)) په نوم کتاب يې ډېر شهرت لري، ځکه چې دده په قبر به پروت و او هر چا به لوسته ، خو له بده مرغه، چې اوس ورک شوی دی.محمد هوتک په پټه خزانه کې دده يو شعر راخيستی چې

لولويې:

خاونده ښکلی ستا جمال دی
ښکاره يې لور په لور کمال دی
که ورځ که شپه، که پيړۍ کال دی
ستا د قدرت کمکی مثال دی
ســـتا دنـــورونو يوه رڼا ده
دلـــته چې جـــوړه تماشا ده
ټول ستا د ياد نارې سورې دي
د استاد مينې ننداري دي
دلته لوی غرونه زرغونيږي
د ژوند ورمې په کې چليږي
بوراوې شاوخوا کرېږي
سترګې ليدو ته يې هينبيږي

لو یه خاونده، ټوله، ته يې
تل دنړۍ په ښکلېده يې

لرغوني دورې پورې مربوط نور شاعران هم لرو . لکه:
باباهوتک ، شیخ ملکیار هوتک، اکبرزمیند اور غزلبول شاعر، شیخ ملي ، سلطان بهلول لودي، خلیل خان نیازی، کجو خان رانیزی، شیخ محمدصالح، زرغون خان، بابړخان، دوست محمد کاکړ او نور . چې د هر یو ژوندلیک او د شعرونو راوړل دلته موضوع اوږدوي.
دښځینه شاعرانو څخه به د زرغونې او رابعې یادونه وکړو :

زرغونه کاکړه:
په پښتنې ښځینه وو شاعرانو کې زرغونه لومړنۍ شاعره ده، چې شعرونه يې موندل شوي دي ، کېدای شي دا لومړنۍ شاعره نه وي او له دې څخه دمخه هم شاعرانې تېرې شوي دي .
دا وخت مشهوره شاعره چې تقریباً د (900 ه) په شاوخوا کې تېره شوې ده، دملادین محمد لور وه او د سعدالله خان نورزي مایینه وه. په قوم کاکړه او د کندهار د پنجوايي اوسېدونکې وه. ښکلی خط يې درلود او د سعدي بوستان يې په پښتو نظم ترجمه کړی دی. د پټې خزانې څخه يې د مثنوي يو ځوبیته دلته رانقلوو:

اورېدلې مې قصه ده	چې له شاتو نه خوږه ده
داختر په ورځ سهار	بایزید چې ؤ رویدار
له حمامه را وتلی	په کوځه کې تېرېدلی
ایرې خاورې چاله بامه	راچپه کړلې ناپامه
مخ او سریې سوککړ	په ایرو په خاورو خړ
بایزید په شکرکښو شو	دخپل مخ په پاکېدو شو
چې زه وړیم د بل اور	چې په اور کې سم نسکور

رابعه:
رابعه د پټې خزانې دلیکنو سره سم د ظهیرالدین محمد بابر (937 ه.ق مړ) د زمانې شاعره وه ، په کندهار کې اوسېده او داشعارو دیوان يې درلود .
ددې شاعرې دغه لاندې رباعي پټې خزانې راوړې ده:

آدم زاد يې زمکې وته ستون کا	په اور دغم يې سوی لړمون کا
دوزخ يې روغ کا، پرمخ د زمکې	نوم يې دهغه دلته بېلتون کا

ددې یوې رباعي پرته ددې نور اثار موږته نه دي معلوم. اما له دې یوې رباعي څخه يې هم دوینا قدرت ښکاري او دا راښيي چې رابعې به په خپل دیوان کې عشقي موضوعات په خورا ادبي نزاکت او لطافت بیان کړي وي.

بي بي نیکبخته:
دا مېرمن نېکبخته د شیخ الله داد لور وه، چې پلار نیکه يې په اشنغر کې اوسېدل په (951 ه-ق)

کال له شیخ قدم سره واده وکړ. مېرمن نېکبخته زاهده، پرهیزګاره او عالمه ښځه وه. په (969هه-ق) کال یې د (ارشادالفقراء) په نامه یو کتاب لیکلی ؤ، چې درې ټوټې ترې محمد هوتک په

پټه خزانه کې اخیستې دي، د یوې ټوټې څو بیته دادي:

په زړه ښادشې اې مؤمنه په ظاهر په باطن سپینه
ظاهر زهد په اخلاص کړې په زړه ټینګ شه له یقینه
شکر صبر په هر حال کړه خودنمای مه شه خودبینه

د مېرمن نېکبختې لاس ته راغلې منظومې ټوټې تبلیغي رنګ لري ، نصایح او پندونه یې په دې اثر کې وړاندې کړي دي.

د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهمه (منځنۍ او کلاسیکه) دوره:

د پښتو ادبیاتو د تاریخ دوهمه دوره، چې منځنۍ (متوسطه) دوره هم ورته ویلای شو، د لسمې هجري پېړۍ له اواسطو پیل کیږي او د څوارلسمې هجري پیړۍ ترلومړیو دوو دریو لسیزو پورې رارسي.

د پښتو ادبیاتو منځنۍ دوره له سیاسي او ایډیالوجیکي مبارزې سره پیل کیږي. خو دغه مبارزه د فیوډالي شرایطو له چوکاټ څخه دباندې نه وزي.

په دې دوره کې پښتو ادبیات د افغانستان ، پښتونخوا او هند په سیمو کې له ځینو ملي مذهبي او پښتني جنبشونو سره په ارتباط کې ایجادیږي او وده کوي. د منطقي مسلط فرهنګي او ادبي جریانونه پرپښتو ادبیاتو خپل اغیز ښندي او د همدغو جریاناتو په پیروي په پښتو ادب کې ځانګړې سبکونه پیدا کیږي او ځان ته خپل خاص پیروان مومي.

میاروښان د یوې مذهبي فرقې دلارښود په توګه په توره او قلم مبارزه کوي.

روښان او خوشحال خټک دواړو د پښتنو د خپلواکۍ او ملي حاکمیت دپاره توده او سره جګړه پرمخ بېولې ده.

روښانیانو دعرفان له لارې د خلکو د سیاسي شعور د لوړولو، په هغو کې د خودۍ او پرځان متکي کېدلو، د احساس د وېښولو دپاره آهنګ وال ادبي آثار ایجاد کړل او په دې توګه یې د کتبي ادبیاتو پانګه رامنځ ته شوه.

خوشحال خټک پښتو ادبیات د مضمون، شکل او قالب له پلوه غني کړل. ده دفارسي ژبې ټول قالبونه ؛لکه: (مثنوي، غزل، قصیدې، رباعي، مخمس او نور...) لفظي او معنوي صنایع په پښتو ادب کې راوستل. دمضمون له پلوه دده په اثارو کې ډېر زیات نوښتونه لیدل کیږي. چې د هغه وخت په شرایطو کې ساری نه لري.

دمنځنۍ دورې ادبیات دمضمون او شکل په لحاظ د پخوانۍ دورې له ادبیاتو سره جوخت توپیر لیدل کیږي.

د دې دورې یوه عمده ځانګړنه داده، چې زموږ د دې دورې بشپړ او مکمل ادبي او فرهنګي آثار په واک کې لرو.

په دې دوره کې د پښتو ادبیاتو علایق له ګاونډیو ژبو سره هم پراختیا مومي. له عربي، فارسي او

هندي ژبو څخه پښتو ته او له پښتو څخه ځینو دغو ژبو ته د آثارو د راکړې ورکړې مسله هم خپلو لوړو پړاوونو ته خیژي.

د افکارو ژورتیا ،دتخیل رنګیني او د قالبونو تنوع دمنځنۍ ادبي دورې غوره ځانګړنې ګڼل کیږي.

دا څرګنده خبره ده ،چې د روښانیانو عرفان،دخوشحال دملي تشخیص احساس،درحمان بابا ادبي بلاغت دحمید او کاظم شیدا نازکخیالي د پخوانۍ ادبي دورې په اشعارو کې نه لیدل کیږي. په منځنۍ ادبي دوره کې درې مهم پړاوونه د فکري، سیاسي او هنري ځانګړنو له مخې دتشخیص وړ دي، چې غوره استازي یې په فکري لحاظ د روښان پلویان په سیاسي لحاظ خوشحال خان ختک او په هنري لحاظ رحمان بابا ، حمید ،شیدا ، حنان بارکزی او نور دي.

بایزید روښان

په هغو نثرونو کې، چې د سلیمان ماکو نثر وروسته زموږ لاس ته رسېدلی او همدا اوس یې بېلګه موجوده ده،دخیرالبیان نثر دی.

دخیرالبیان د کتاب مؤلف میاروښان یو له هغو مشهورو او مصروفو لیکوالو او متصرفینو څخه دی ،چې د پښتو ادب په تاریخ کې ډېر شهرت لري. بایزید روښان سربېره پردې چې یو عالم سړی ؤ ،یو توریالی عسکر هم ؤ او ډېره موده یې دمغلو په مقابل کې جګړې کړې دي او د پښتونولۍ نوم یې ساتلی دی. د پلار نوم یې شیخ عبدالله ؤ ،چې پس له اوه پښته څخه شیخ سراج الدین انصاري ته رسیږي ،چې د میاروښان پلار په کاڼي ګرام وزیرستان کې ؤ ،میاروښان علاوه پردې چې د بایزید په نوم یادېده په پیر روشن یا روښان هم یادشوی دی، مخالیفنویې په ((پیر تاریک)) سره هم یاد کړی دی ، دبایزید انصاري یا بایزید مسکین په نوم هم ذکر شوی دی.

بایزید روښان په سنه(932ه) کال زېږېدلی او په (994ه) کال کې وفات شوی دی،دښاغلي خادم دلیکنو له مخې پیر روښان د ملاپاینده نومي سړي څخه چې دده د پلار له شاګردانو څخه ؤ درس ویلی دی او طریقت یې له خواجه اسماعیل څخه چې د ریاضت خاوند ؤ او ډېر مُریدان او معتقدان یې لرل،اخیستی دی، بیا وروسته په خپله دطریقې په مخ بیولو کې لاربښود او رهبر شو او د خاص مسلک او طریقت خاوند شو.

دخیرالبیان د نثر نمونه:

ادمیان زما په هستۍ کې دي زما هستي ده په ادمیانو لکه کبونه په اوبو او اوبه په کبونو کې لکه کبونه په اوبو ژوندي دي په ماژوندي دي ادمیان ، په قرآن کې ویلي دي سبحان کب چې په اوبو کې ګرزي مخ یې و اوبو ته شي هسې هر لور وته چې جاروزي مخ یې وماته شي د ادمیانو زه یم وښېته په پوست کې د ادمیانو په وینو په غوښه د ادمیانو په رګ په پله د ادمیانو په هډو په ماغزه د ادمیانو په هرڅه کې یم، چې څه شته د سړي په ځان تحقیق ده زما هستي له هره خیزه بهر لکه ده له ادمیانو زه نږدې یم ادمیانو ته له ځانه.

د خیرالبیان اصلي نسخه په لاس کې نه شته او دغه راز څونموني مارګین ستړن ترینه په خپله یوه مقاله کې رانقل کړي دي ، چې خپله نظریه یې پرې داسې څرګنده کړې ده:

د خيرالبيان په نثرکې د عربي ژبې رنګ او تأثير ښکاره دی، جمله بندي يې عيناً په عربي سبک تطبيقيږي.
د مقفی نثر لومړی نمونه په پښتو کې د خيرالبيان څخه لاس ته راځي، تر دې د مخه موږ د دغسې نثر نمونه په پښتو کې نه وينو.
په پښتو کې ديني او اخلاقي مسايل او د آياتونو او حديثونو ترجمې هم غالباً له خيرالبيان څخه شروع کيږي.
د خيرالبيان نثر د لسم هجري قرن نثر يوه نمونه ده او په دغه وخت کې فارسي نثر هم د عربي له تأثير لاندې ؤ.

خوشحال ختټک

خوشحال خان د شهبازخان زوی د (1022ه.ق) کال د ربيع الثاني په مياشت د ختټکو د اکوړې په سرای کې زېږېدلی دی.
خوشحال خان په خپله يوه قصيده کې خپل ځان داسې راپيژندلی دی:

زه خوشحال د شهباز خان	چې تورزن يم کان په کان
شـهبازخان د يحی خان و	چې بل نه و هـسې ځوان
يــحی خـان د اکوړي و	چې په توره شـو سلطان
د هجرت زر دوه ويشت سن و	چــې زه راغـلم په جهان
هـغه کال پوره پـنـځوس و	چې شهيد شو شهباز خان
د هـغـــه دور بادشـــاه و	قــدر دان شـــاه جهان
د پلار ځای يې وماته راکړ	پـه ولس شوم حکمران

د خوشحال خان د دې قصيدې د پورته بيتونو څخه د خوشحال د ژوند زمانه او دده د کورنۍ شجره ډېره ښه معلوميږي.
د کوچنيوالي څخه د خوشحال ژوند له ځينو حوادثو سره ملګری دی ، د مثال په ډول په (1029 ه. ق) کال د خوشحال د شپږو کالو ؤ ، چې په لنډي سيند کې لاهو شو او نجات يې وموند. په (1030 ه.ق) کال دی د اتو کالو ؤ ، چې له ځيرې نه کانې پرې راولوېد دا ځل له مرګ نه بچ شو .
خوشحال خان ختټک نه يوازې د خپل وخت او زمان يو تولنيز ، سياسي شخصيت او بريالی سالار ؤ ، بلکې دی د پښتو ژبې يو داسې شاعر او ليکوال ؤ ، که وواېو د پښتو ادب تاريخ دده له نامه او اثارو پرته نيمګړی دی ، نو دا به کومه د مبالغې خبره نه وي.
خوشحال ختټک لکه چې يې ويلي دي ، پښتو ژبې او ادب ته په نظم او نثر کې هغه څه ورکړل، چې ترده د مخه او وروسته يې ښايي ساری موږ په ندرت سره بيا مومو.
په تازه تازه مضمون د پښتو شعر
په مانا مې د شېراز او خجند کړ
په بل ځای کې بيا وايي:

که د نظم که د نثر که د خط دی	په پښتو ژبه مې حق دی بې حسابه

خوشحال دمغلي واكمنو له خوا بندي شوى هم دى.

پس له بنده دى دا عزم	د خوشحال د خاطر جزم
يانيولى مخ مكې تــه	يا مــغــلــو ســـره رزم

تربند دمخه د خوشحال بابا آثار يوډول تمايلات لري او تربند وروسته يې شعر او هنر بل رنګ اخلي.

محققانو د خوشحال د آثارو شمېره ډېره زياته ښوولې ده ، خو هغه آثار،چې معلوم دي په لاندې ډول دي:

دخوشحال كليات،چې دبيتونو شمېر يې تر ځلوېښت زرو ډېر ښودل شوى دى.

فراقنامه،دستارنامه،بازنامه،فالنامه،فضل نامه،طب نامه،بياض، ځنځيرى ، سواتنامه، پارسي ديوان،اخلاقنامه د خوشحال آثار نه يوازې د كميت په لحاظ دياد ونې او منلو وړدي، بلكې په كيفي لحاظ هم د خوشحال د آثارو كيفيت ډېر لوړ دى. خوشحال تر (1100 ه.ق) پورې ژوندى ؤ،دده په كليات كې قصيدې،غزلې،رباعي،قطعې،مخمس،مسدس،معشر،تركيب بند ، ترجيح بند ، مثنوي،ذوالقافيتين او نور پيدا كولاى شو .

دخوشحال د ښكلو غزلونو څخه ديوې غزلې څو بېته د بېلګې په توګه راوړو :

توره چې تېرېږي خوګوزار لره كه نه
زلفي چې ول ول شي خوخپل يار لره كه نه
ولې راته وايي چې په ښكلو نظر مه كړه
سترګې چې پيدا دي خو ديدار لره كه نه
شيخ دې لمونځ روژه كا زه به ډكې پيالې اخلم
هرسړى پيدا دى خپل خپل كار لره كه نه
مى شته چنګ و نى شته د خپل يار سره خوشحاله
خپل بياض په لاس كې څه ګلزار لره كه نه

رحمان بابا

رحمان بابا په بهادر كلي كې،چې له پېښور څخه درې ميله لرې جنوبي اړخ ته پروت دى. له عبدالستار مومند كره وزېږېده.

پټه خزانه د رحمان بابا د زېږېدو كال (1042 ه.ق) ښيي، لكه څنګه چې مشهوره ده رحمان بابا پيدا شوى خو په بهادر كلي كې ؤ، وروسته د ځينو وجوهاتو له كبله يې خپل كلى پرېښود او هزار خوانې ته راغى.

رحمان بابا له ملا محمد يوسف يوسفزي څخه زده كړه كړې او له هغه څخه يې فقه او تصوف زده كړل ، بيا كوهاټ ته ولاړ هلته يې سبقونه ولوستل او ښه عالم شو. رحمان بابا يو عالم او عابد سړى ؤ.

رحمان بابا د خپل وخت رواجي علوم لوستي وو ، په پارسي او عربي ادب کې يې مطالعه درلوده ، رحمان بابا دتصوف له رموزو هم خبر ؤ .

د رحمان بلبل تصوف سړی له خدای او دخدای له مخلوق سره د ناپایې مینې په اظهار کې خلاصه کولای شي. د استاد کامل په وینا : ((له خدای دهغه له مخلوق سره محبت دتصوف داسې اصول دي چې له مذهب سره د بشپړ مطابقت، پاکۍ او عظمت له پلوه ډېر منل شوي دي)). د رحمان بابا د شاعرۍ پیغام همدا محبت دی.

استاد روهي په خپله یوه لیکنه کې دا نظریه داسې تفسیر کړې ده چې: ((رحمان بابا د یوه فقر ځپلي اولس زړه ته دخپل پیغام په وسیله لار پیدا کوي او ددغه پیغام اصلي جوهر مینه او محبت دی. عشق او محبت نه یوازې د انسان د نجات وسیله ده، بلکې د جهان دتکوین لومړنی محرک هم دی.

لکه رحمان بابا چې ویلي دي:

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی　　　دجملوو مخلوقاتو پلار دی دا

دپښتو دغه عظیم انسان دوست شاعر په (1128 هـ.ق) کال له دنیا څخه سترګې پټې کړې او دپېښور د هزارخانې په هدیره کې خاورته وسپارل شو .

له ده څخه په پښتو ژبه دشعر یو ښکلی دېوان راپاتې دی، چې په دوو دفترونو کې تنظیم شوی دی. دا دېوان په پښتو کې مشهور او د احترام وړ دی او خلک فالونه پر باسي او خپل مرادونه ځنې غواړي.

په دې دېوان کې ښکلې غزلې، قصیده ډوله اوږدې غزلې مخمس او مسبع پیدا کېږي.

دده روان ساده او عام فهمه شعر د هر چا او هرې سویې د خاوند پر مزاج برابر دی ، دده شعر که آسان دی خو ژور انساني مفاهیم په کې رانغښتي دي.

درحمان بابا دشعر یوه بېلګه:

که په ګنج دشاهي فخرشهریار کا　　　عاشقان یې ددلبرو په رخسار کا

خرقه پوشو په خرقه کې دی موندلی　　　هغه حظ چې په دنیایې دنیاردار کا

پتنګانو له خدای په اورکې ورکړ　　　هغه عیش چې یې بلبلې په ګلزار کا

نیک ساعت په بدبدل د هیچامه شه　　　په وصال کې غم دهجرورد وخار کا

دبېړۍ په ډوبېده چې خدای راضي شي　　　یګانګي دزړونو کله هلته کار کا

هغه مخ چې مادر زادښایسته نه دی　　　مشقت دمشاطې واړه مردار کا

باز دنار له خوبه پاڅي پسې ګرځي　　　چې فلک دعاشقانو بخت بېدار کا

نیمه شپه یې یار ترسره پورې کښېني　　　لکه شمع چې څوک بله په مزار کا

دمستۍ د هوښیارۍ یې یون څرګند دی　　　په هرچاکې چې څه وي هسې رفتار کا

رحمان هسې بې وقوف سوداګر نه دی
چې ددین متاع بدله په دینار کا

عبدالحمید مومند

عبدالحمید مومند هم له بده مرغه د پښتو د همغږیو څو وتلیو شاعرانو په لړ کې دی، چې د زده کړې او مړینې جوتې نېټې یې لا هم د څیړنې په تورو اوبو کې ډوبې دي خو بیا هم د حمید بابا د ټاټوبي او زېږنځي په باب هم پښتانه پوهان او د پښتنو څېړونکي یوه خوله نه وو خو وروستیو پلټنو جوته کړه، چې حمید بابا د پېښور کوهاټ سړک او باړې رود پربنې غاړه پراته کلي ماشو ګګړ ماشو کې زېږېدلی دی.

تر (1338) لمریز کال او (1959 زېږدیز) کال پورې کورني څېړونکي او بهرني ختیځپوهان پښتو څېړونکي او لیکوال د راورتي د روایت له مخې په دې عقیده ؤ، چې ګڼې حمید مومند تر (1145 هـ.ق) پورې ژوندی و او یا د بلومهارت Blumharat په وینا پر همدغه کال مړ دی.

خو د حمید بابا د شرعة الاسلام په پیدا کېدو سره دغه عقیده واوښته او تر (1148 ه.ق) پورې د حمید ژوند یقیني ثابت شو.

د حمید بابا مزار د ماشو (ماشو ګګړ) په لویه هدیره کې دی ، د حمید د یوان چې د اټکل له مخې دده په ژوند ټول شوی دی په ادبي حلقو کې په دُر مرجان مشهور دی. د عبدالحمید مومند وروستی او تر ټولو چاپ شویو دیوانونو بشپړ دیوان همدا سرمحقق همېوادمل په زیار دیوان دی ، چې (290)غزلې او قصیده ډوله غزلې، قصیدې ، یو مخمس، یو ترکیب بند او دوې څلوریزې لري، چې د ټولو بیتونو شمېر یې (2932) ته رسي د حمید مومند نور مشهور آثار دا دي: نیرنګ عشق ، دعزیز او شاهد دمینې سوځنده داستان دی، چې پښتو ژباړه یې د حمید له برکته په ادبي حلقو کې هم د ډېر لوړ نامه خاونده شوې ده.

شاه او ګدا د حمید بابا دا منظومه داستاني ژباړه ده. د شاه ګدا د بیتونو شمېره (1788) بیته ده. حمید بابا دغه کتاب په داسې ډول ترجمه کړی دی، چې د ترجمې په فن کې یې ځانله یو ښکاره مقام پیدا کړی دی.

شرعة الاسلام: دا کتاب په پاړسو هم ترجمه شوی دی. چې د تذکرةالابرار و الاشرار په مأخذونو کې راوړل شوی دی.

پښتو منظومه ترجمه یې د حمید مومند په غښتلي قلم لیکل شوی ده، چې په پښتو تبلیغي اثارو کې د ادبي نفاست له مخې هسکه درجه لري.

دا دخوږ ژبي شاعر حمید مومند د نظم نمونه:

نه زماده نه دستاده دادنیا
پاتې شوې له هرچاده دادنیا

دیوه غبرګ کې پرته وبل ته خاندي
څه لولۍ او بې حیاده دا دنیا

په رڼایي دچاکارنه پوره کیږي
دآسمان برق وبرېښناده داد دنیا

که ظاهرښکلې زیبالیده شي څه شو
په باطن توره بلاده دا دنیا

مروت د آشنایۍ په کې نه شته
که اشنا ده نا آشناده دا دنیا

په یوځای یې تیکاو هیڅبرې نه شي
لکه سیوری خوا وشا ده دا دنیا

تـل پـه ځان پوري د خپـلو طالبانو مسخـرې کاپـه خندا ده دا دنيا
په سودا يې سودمن شوي هېڅوک نه دی جـو فـروش ګـندم نماده دا دنيا
چې حميد په کې خندا کا رېشخندي کا
ځـای د غـــم او د ژړا ده دا دنـيـــــا

د پښتو ادبياتو اوسنۍ دوره:

د پښتو دادبي تاريخ اوسنۍ دوره، د شلمې پېړۍ له دوهمې لسيزې څخه پيل کېږي. دا بايد ووايو، چې په (1839 زېږديز) کال د ډيورنډ د تحميلي کرښې په اثر د ادبي تحول اوسنۍ دوره په لره او بره پښتونخوا کې د سياسي جريانون د جلاوالي په سبب يو شانته انکشاف نه کوي خو پيلامه يې يو شانته ده.

د اوسنۍ ادبي دورې ادبيات د منځنۍ دورې ادبياتو سره د محتوی، شکل،ژانرونو او قالبونو له پلوه څرګند توپير لري او د ادبي تحول نوې دوره بلل کېدای شي.

د مضمون او محتوا له پلوه د اوسنۍ دورې په ادبياتو کې نوي فکري او سياسي تمايلات،نوي هنري مېتودونه لکه (رياليزم او نور) نوي ادبي ژانرونه لکه (ناول،لنډه کيسه،نوی شعر، ادبي ټوټه،طنز او نور) رامنځ ته شوي دي.

په ادبي قالبونو کې هم نوی شعر،منثور شعر په ايجادولو سره تنوع او نوښتونه منځ ته راځي. د پښتو د معاصر ادب د پيلامې په اړوند د پوهانو اندونه يو ډول نه دي. خو د پښتو ادبياتو تاريخ معاصره دوره کتاب مؤلف سرمحقق صديق روهي په عقيده د پښتو معاصر ادب په لره پښتونخوا کې د (1910 زېږديز) کال شا او خوا د (افغان) جريدې په خپرېدلو سره پيلېږي. په دغه جريده کې د پښتو ادب نوي ژانرونه باب شول او د راحت زاخيلي،فضل محمود مخفي،عبدالاکبر خان اکبر غونډي ليکوالو او شاعرانو د معاصر ادب زړي وکرل.

په افغانستان کې د سراج الاخبار د دوهم ځل (1911 زېږديز) کال په خپرېدو سره د پښتو معاصر ادب بنسټ کېښودل شو. د سراج الاخبار د جريدې په خپرېدلو سره د پښتوژبې او ادبياتو ته هم دانکشاف زمينه برابرېږي. په همدې وخت کې په لره او بره پښتونخوا کې ډېر داسې ځوانان موجود وو،چې د نويو علمونو او اروپايي ادب مطالعه يې کړې وه،نوي ادبي ژانرونه او فورمونه يې پيژندلي وو. د خپل خيال د اظهار لپاره يې نوې لارې په نښه کړې وې.او د پښتو د لرغوني ادب پر پاخه بنسټ يې د پښتو د نني ادب ماڼۍ پيل کړه،په افغانستان کې د ((سراج الاخبار افغانستان)) جريده د مولوي عبدالرؤف کندهاري له خوا د (1906 زېږديز) کال د جنورې په يوولسمه نېټه له چاپه راووتله خو له همدغې لومړۍ ګڼې له خپرېدلو وروسته جريده بنده شوه او دوهم ځل لپاره د (سراج الاخبارافغانيه) په نامه په (1911 زېږديز) د محمود طرزي په مديريت او مشرۍ خپره شوه.

محمود طرزي او عبدالرحمن لودين په (سراج الاخبار افغانيه) کې د پښتو نظمونو او مقالو خپرولو

ته په اګاهانه توګه پاملرنه اړولې وه. د پښتو لومړی شعر چې په دې جریده کې خپور شو د مولوي صالح محمد کندهاري شعر دی:

دا څـه عـجب دوران دی
چې راغلی په افغان دی

رنـګـارنـګـه تـرقـي ده
څه عجب محبوب عنوان دی

دا له کومه سو په مونږ کې
چې ظـاهـر او نمایان دی

دا خـو عـصـر د سـراج دی
چې افغان ټول پرې روښان دی

ته سـراج الاخـبـار تـه ګـوره
چې د ملک په تن کې ځان دی

اوس بـیا نـور علي نور سو
په پښتو چې دی ګویان دی

په دغه شعر کې د نوي دوران د پیلېدو زېری ورکړل شوی دی.

د اوسنۍ او معاصرې دورې د ځینو شاعرانو شعرونه او د کلام نمونې:

مولوي صالح محمد کندهاري: (1269 – 1339 هـ.ش)

صالح محمد هوتک په کندهار کې زېږېدلی او د پنځلس کلنۍ په عمر کابل ته راغی. لومړنۍ زده کړې یې د کابل د حبیبې په مدرسه کې سرته ورسوله او بیا په هماغه مدرسه کې د ښوونکي په توګه مقرر شو.

مولوي صالح محمد هوتک د پښتو ژبې درس ورکاوه او د پښتو درسي کتابونه یې لیکلي دي. دده آثار دا دي:

1. خود آموز پښتو
2. لومړی کتاب
3. پښتو ژبه لومړی ټوک، دوهم ټوک
4. د پښتو ژبې لپاره تدریسي کتاب
5. پښتو صرف او نحو، له اردو څخه ژباړل شوی
6. د عزیزي تفسیر ترجمه په پښتو ژبه
7. اطاعت اولوالامر په پښتو ژبه
8. پښتو مقنوي

دمولوي صالح محمد ډېرې لیکنې تعلیمي او تدریسي بڼه لري،ده دپښتو د معاصر ادب د سرلاري په توګه نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. دده یو بل شعر چې دلومړۍ نړیوالې جګړې په وخت کې یې دعثماني ترکیې په ملاتړ ویلی او په سراج الاخبارکې چاپ شوی دی. دانګرېزانو د سخت غبرګون سره مخ شو . هغه شعر دادی:

ته کره د زمکې ګوره
نظر وکړه زما وروره
دنیاده پـــرشور راغلې
تـــورېـــدلې،قهرېدلې
لرې ډول چـــې پرې دنیا دی
پـــریـــورپ که پر اېشیا دی
ټول په جنګ سره اخته دي
پـــه ســرو وینواغشته دي
جرمـن دی خدای ګمارلی
روس، انـګرېز ته شکارلی
انګرېزان په ویر اخته دي
ډېر مغموم خورا خفه دی
هـــمـــت ګـــوره دتـــرکانو
درومـــیـــانو ،عـــثمـانیانو
اې زمـــا بـــرادرانـــو
اې جمله مســـلمانانو
ښه فرصت دی خدای راکړې
ښــه مـوقـــع دی پـــیدا کړې
چې کفار سره اخـــته دي
په سرو وینو اغشته د

ي

دغه مثنوي ټوله (70) بیته ده. دا سې ښکاري چې انګرېزانو به امیر حبیب الله خان ته سپارښتنه کړې وي،چې د مولوي صالح محمد کندهاري د آثارو د خپرېدو مخه ونیسي. تریوه کال پورې چابیا په سراج الاخبارکې دده اثر ونه لید. ددې لپاره چې د خپلو اثارو د خپرېدو لپاره یې لار خلاصه کړې وي. په (1295 هـ.ش) کې یې د (اطاعت اولوالامر) تر سرلیک لاندې یو شعر له چاپه راووت.
د مولوي صالح محمد (دبلبل ژړا) یا (په قفس کې بلبل) په نامه شعر ډېر شهرت لري، دا دعبدالهادي

داوي د شعر ژباړه ده.

غلام محی الدين افغان (1279 – 1339 هـ.ق)

غلام محی الدين افغان د عبدالرشيد زوی، په کندهار کې زېږېدلی دی، د تبعيد په موده کې يې په هند کې عصري پوهنې زده کړې.

ويل کيږي چې دی په اردو، سنسکرېت، عربي، انگريزي او فارسي ژبو پوهېده. دی، چې کله کابل ته راستون شود هېواد، د ځوانانود روزنې په منظور يې معارف ته مخه کړه او د دارالمعلمين مدير وټاکل شو.

د خپلواکۍ دبشپړتيا، دعصري پوهنو د تعميم، پراختيا او د ملي احساس د وېښتيا په لار کې يې هلې ځلې وکړې. افغان د پښتو ژبې د سوچه کولو سره هم مينه درلوده. غلام محی الدين افغان په (1300 ه.ش) کال خپلې نغمې بس کړې او همېشني باغ ته يې سفر وکړ.

(دمړينې نېټه چهارشنبه، د زمري 11، 1300 هـ مطابق 28 ذيقعده 1339).

دافغان د شعر يوه بېلگه:

زړه زمـا ډک دی لـه مـيـنـې دوطـن — خپل وطن ماته عزيزدی ترخپل تن
هريوگل مې دوطن پرما ډېـر گران دی — تـرکشميره، ترپاريس و تر لـنـدن
شيرين ځان مې په شيرين وطن فدا دی — زه خـودارنگه فـرهـاد يـمه کوهکن
گـلـسـتـان مې دوطـن لادرکـنـار دی — خـارسـتـان دی دوطـن راته گلشن
دوطـن پـه حـمـايت کې ځان مباح دی — پـه دامـيـنـه کې لازم دی سرباختن

چې دچـا پـه سـرسـودا د وطـن نه وي — سـردده دی مـسـتـحـق د بـريدن
چاپه زړه کې چې جنون د وطـن نه وي — دهغه زړه خدای همېش لري غمجن
که څه ډېر دي په جهان کې عـزتـونـه
ډېر عزت دی په خدمت کې د وطن

گل پاچا الفت (1288 – 1356 هـ.ش)

گل پاچا الفت د ميرسيد پاچا زوی د سيد فقير پاچا لمسی په ختِه سيد پښتون په (1909) زېږديز کال، چې د (1288 هـ.ش) سره سمون لري د لغمان ولايت د عزيز خان په کڅ کې زېږېدلی دی.

گل پاچا الفت د پښتو د معاصرو ادبياتو هغه لوی اديب، شاعر او ليکوال دی، چې په ادبپوهنې، ژبپوهنې او لغتپوهنې کې دده ادبي او هنري خدمتونه او دده نه سترې کېدونکې هڅې نه يوازې د هېرېدو نه دي، بلکې زموږ د اوسني او راتلونکي نسل لپاره ديو لوی ادبي او هنري مکتب حيثيت لري. ځکه چې دی، په نظم او نثر کې د ځانگړي سبک خاوند ليکوال دی.

الفت د زړه رنځور ؤ او د همدغې ناروغۍ له امله په (1977) زېږديز کال، چې د (1356 هـ.ش) کال سره برابر دی د قوس مياشتې په (28) مه د (63) کالو په عمر له دې نړۍ نه د تل لپاره سترگې پټې

کړې او په ډېر درنښت د لغمان د عزیز خان په کڅ کې د کابل جلال اباد ، د لویې لارې په غاړه په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

دالفت چاپ شوي کتابونه او رسالې:

1- د پسرلي نغمه 2- ښه لمسون 3- عالي افکار 4- د آزادۍ پیغام

5- غوره اشعار 6- د زړه وینا 7- د الفت خبرې 8- بله ډیوه

9- نوی سبک او نوی ادب 10- غوره نثرونه 11- لغوي څېړنه

12-لیکوالي املاء او انشأ 13- څه لیکل یا لیک پوهه 14- ادبي بحثونه

15- پښتو سندرې 16- ملي قهرمان 17- منطق 18- اسلام او د اسلام نقش د فرد او جامعې په جوړولو کې 19- اجتماعي نظریات

20- د ټولنې علم 21- لوړ خیالونه او ژور فکرونه 22- احمد شاه بابا افغان....

دالفت د شعر بېلګه:

زما ګناه

نه مې د چامال خوړلی نه مې څوک وژلي دي
نه مې چاته ورک شه یا ګم شو کله ویلي دي

نـــوره ګـنـاه نه لرم په دې ګناه مې مه نیسه
زړه کې مې چې پټ ظالم ته بد غوندې کتلي دي

وخت د اعتراف دی ګناه خپله درته وایمه
نه یمه منکر په مظلومانـو مې ژړلي دي

داګناه د ســتـرګـو کـه د زړه ده نه پوهېږمه
بد مې چې لیدلي خدایږو بد مې هم ګڼلي دي

زه یې په لیدلو او ویلو ګناه ګـار شـومـه
نوریې په کولو او عمل باندې ښاغلي دي

نـه یـمه خـایـن پـه خـیـانت د نورو پوه یمه
پوهه که ګناه وي خلق ټول اوس پـوهېدلي دي

داچې ډېر کاږه درته ولاړ دي ټـیـټ سرونه هم
ستا مخ کې چې سم نه شوه سم کله چلیدلي دي

هیڅ امید ترې مه کړه که څوک ځان د تا غلام ګڼي
مـا غــلامـــانــه ذهـنـیـوتونه پیژندلي دي

لوړ مقام ته رسي چې بوټونه پاکوي د بل
ډېر په دغه شغل ریاست ته رسېدلي دي

د کل پاچا الفت د نثریوه بېلګه:

ملي يووالی

هغه خلک چې په يوه وطن کې اوسيږي ګډه او زيان يې يو دی، ديوه واکمن امرته يې غاړه ايښې وي له يوه بېرغ لاندې راټوليږي او مشترک تاريخ لري يو ملت بلل کيږي.

افغانستان يو وطن دی، ددې وطن ټول اوسېدونکي يو ملت دی، ددې ملت نوم افغان دی، لکه چې په افغانستان کې ساړه او تاوده ،وچ اولامده، هسک او ټيټ ځايونه شته، چې په ځينو کې يو راز غلې او يوې کيږي په ځينو کې بل راز. په ملت کې هم راز راز خلک شته، وطن هغه تنګ او کوچنې کور نه دی چې ديوه پلار او ديوې مور اولادونه به په کې استوګنه لري اونه هغه کلی دی، چې ټول اوسېدونکي به يې يوخېل يا قوم وي په دې اوسنۍ زمانه کې اوس ځينې داسې کورونه هم شته، چې يومسلمان پښتون له يوې روسې يا امريکايي مېرمنې سره په کې اوسيږي او دواړه ديوه اولاد مور او پلار وي .

هرکله چې په يوه کاله کې دا حال دی نوپه يوه لوی وطن کې به ولې هندو اومسلمان، شعيه او سني، پښتون او تاجک ديوه ملت په حيث نه اوسيږي.

زه ډېر داسې دوه ورونه پيژنم چې يو پښتو وايي او بل پارسي.

(دالفت نثري کليات 107 مخ)

عبدالحی حبيبي (1289 – 1363 ه.ش)

عبدالحی حبيبي د عبدالحق اخوندزاده زوی ،په قوم کاکړ او په (1289 ه) کال د کندهار په ښار کې زېږېدلی دی.

څرنګه چې دی دکندهار دسترعالم مولوي حبيب الله (مشهورپه حبو اخونزاده) کورنۍ ته منسوب دی نو ځکه يې پرځان د حبيبي تخلص ايښی دی.

پوهاند عبدالحی حبيبي د پښتو ژبې، ادب او د پښتنو د تاريخ ترټولو ستر محقق دی او د همدې امله يې د (لوی استاد) لقب ګټلی دی.

لوی استاد په خپلو څېړنو کې د پښتو ادبياتو ډېر تياره ګوټونه روښانه کړي دي، ده په سلګونو آثار (کتابونه،رسالې او مقالې) ليکلي دي.

په فارسي ژبه دده ډېری ليکنې د پښتو ادبياتو اود افغانستان تاريخ معرفي کولو ته وقف شوي دي.

پوهاند حبيبي د ادب او هنر په هر ادبي او هنري ژانر کې د پوره صلاحيت خاوند ؤ ، هغه په هنري نثر کې لومړی سړی ؤ ،چې په (1314 هه.ش) کال يې يو هنري نثر (اثر) د ((توريالی پښتنه)) په نوم وليکه او له هغه وروسته يې د پښتو ادبياتو د تاريخ لپاره دومره کار کړی دی، چې تر اوسه هيڅ ليکوال او اديب په دې اندازه قلم نه دی چلولی. استاد نه يوازې پښتو ژبې او ادب ته خدمت کړی دی بلکې دري ژبې ته يې هم ډېر خدمتونه کړي دي.

دعبدالحی حبيبي د ځينو اثارو نومونه دادي:

1- سپيڅلې پښتو 2- تاريخچه پشتو 3- د سليمان مالو تذکرة او د پټې خزانې ميندل 4- پښتو

ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک او دوهم ټوک

5- پښتانه شعراء لومړی ټوک 6- پښتو لویکانو غزنه 7- پښتو او پښتونواله

8- مشاهیر افغانستان 9- پسرلنۍ سندره 10- دډارمستېر دهار وبهار ژباړه 11- تاریخ مختصر افغانستان

د عبدالحی حبیبي د نثر نمونه:

دفداکارۍ صحنه

دننګیالو پښتنو کهول لاپرلاړې وه، چې خدای سپېدې وچاودې، سهارسو پر یوه ناور ټولو اودسونه تازه کړه.ترلمانځه وروسته زمري خان بابا توره له تېکې راوکښه، په پښتني جوش یې وویل ((خدایه ! داتوره ماستاد رضا او د پښتنوالي او ننګ او ناموس دساتنې دپاره راکښلې ده ، زه ځان او خپل ګران زوی او دسترګو توره تورپیکۍ او خپله پښتنه ملګرې زرغونه پرتاسپارم !)).

دایې وویل د لمر لومړیو وړانګو دده توره بربښوله، مخ پرنوې کلاراغلل. هرخومې چې رانږدې کیږې، ګرز او غبار، د توپو ډزهار، دټوپکو ټکهار، د تیارو غرمبهار ډېرېږې او داسې ښکارې، چې دسپین بولدک پرکلا دمحشر ورځ ده. ننګیالیو پښتنوچې دا حال ولید ځانونه یې چمتو کړه. دسپین ږیرې بابا دپښتونوالي احساسات مشتعل سوه ناره یې کړه:

«دا کلا...دازمکه...داخاوره...داوطن...دازموږ دپلاراونیکه هدیره...مګر خاوند نه لري ؟

خدایه پښتانه ژوندي دي که مړه ؟

بیا پردي خاوره د غلیم قدمونه ابښود کیږي؟

ها – دمیوند زمرو !...څه سواست ؟

ها – دااحمدشاه بابا او اکبرغازي اولاده !...چېرې یاست ؟

ها – پښتنو او پښتنوالي !...

ها !– د بارک او اڅک زامنو !...

د ننګ او ناموس وخت دی...»

پرسپینه ږیره یې روښې اوښکې بهېږې آخره پلا خپل ګران ګلالی زوی ریدي په بغل کې نیسي، پرتندي یې مچوي، وایي:

((خدایه !...دا زوی خو خاص ددغې ورځې دپاره لوی کړی ، ،دادی ستا رضا او دوطن دپاره یې قرباني کوم !...))

تردې وروسته تورپېکۍ هم پرسپین باږخو باندې مچوي ورته وایي:

((جنکۍ !دسترګو تورې ! دپښتانه مېرمنې تل پرخپل ننګ و ناموس ترسر تېرېږې. له خدایه غواړم چې ته هم یوه توریالۍ پښتنه سې او د وطن انتقام له غلیم څخه واخلې.

ریدي خان، چې هم آخر ولید خپله ګرانه او دزړه سر محبوبه یې په بغل کې ونیوه، آخرنۍ وداع یې ورسره وکړه. دا منظره دومره دلچسپه وه تابه ویل یو اهل جنت له حورې سره مینه کوي...

وروسته نو دواړو د زرغونې ادې لاسونه ورمچ کړه او حق پلیت یې ځینې واخیست. تورې له تېکې څخه وبربښېدلې. ټوله په ګډه دفداکارۍ میدان ته راغلل.

(د تورپيکۍ کيسه په اوسني ليکوال کې بشپړه چاپ شوې ده،ودې کتل شي)

د استاد حبيبي د شعر بېلګه:

سپوږمۍ !
د اسمان سپينې سپوږميه !
مخ دې روڼ،تندی دې ورين دی
شا او خوا دې پلوشې ځي
په رڼا دې تور بڼ سپين دی

دويرجنو خواله کړې
راسه زړه مې ډېرغمګين دی
راسه زماګراني پيۍ مخې !
چې يودم د زړه خواله کړو

سره کښېنو لاس تر غاړه
خوا په خوا سره پاله کړو
ښکلې پېغلې مه شرمېږه
پټ دې ولې ترغره مخ کی؟

ته يې زماد زړګي ملګرې
تل به نورو پر موږ رخ کی
له هېواده لېرې ګرځم
زما په زړه پورې ملګرې !

د وطن بل څوک خو نسته
دلته يم يوازې لېرې
نه خوارېږه ياران خپلوان سته
نه ددوی خوږې خبرې

يوه ته يې زما ملګرې
راسره يې له هېواده
هم هورې يې هم دلې يې
خدای دې تل ولره ښاده !

چې زه درومم ته هم درومې
چې زه ناست يم،ناسته ته يې
په ځغاسته راسره ځغلې
چې بېده يم ته بېده يې

وفاداره ښکلې پېغله

ته سپوږمۍ ،که پښتنه یې؟

ســـتا وفا دپـــښـــتنو ده
اسماني پېغلې نجلۍ !

په ښوی ښکلې پښتنه یې
د غـــمــجـــن مـــین شهۍ

عبدالرؤف بېنوا (1293 – 1363 ه ،ش)

عبدالرؤف بېنوا د مفتي عبدالله زوی په (1293 ه ،ش) کال چې د (1913) زېږدیز کال سره سمون خوري، په کندهار کې زېږېدلی دی، په ختّه البزی پښتون دی.

لومړنۍ زده کړې یې د خپلې کورنۍ د غړو او دکندهاري عالمانو څخه کړې ده، وروسته یې په خصوصي ډول زده کړې او مطالعې ته دوام ورکړ.

بېنوا ډېر اثار لیکلي دي،چې مشهور یې دادي:

پښتني مېرمني،مېرویس نیکه،ادبي فنون،هوتکي ها ، پرېشانه افکار، ټاګور دکیتاانجلي ژباړه،اوسنی لیکوال (دري ټوکه) ، پښتونستان،پښتو کلي ، پردېس،پښتو د شاهانو په دربار کې، خوشحال خان خټک څه وايي، چند آهنګ ملي ، د غنمو وږی ، د افغانستان تاریخي پېښې، د زړه خواله ،د افغانستان نومیالي (په دري ټوکه کې) او نور.

استاد بېنوا د پښتو د معاصر ادب ښه لیکوال او شاعر تېرشوی دی، په هنري نثرکې خصوصاً ډرامه کې لومړی لیکوال دی.

بېنوا په (1363 ه.ش) کال د سرطان دناروغۍ له پاره نیویارک ته ولاړ، هلته وفات شو او په نیو جرسي کې خاورو ته وسپارل شو .

خوا دبېنوا وصیت ترسرلیک لاندې شعر کې بېنوا داسې غوښتنه کړې، کله چې وطن د سرو لښکرو نه ازاد شي نو زما هډونه به خپل وطن پاک افغانستان ته رسوئ. ددې وصیت وروستي درې بیته داسې دي:

زما هډونه به دروړئ وخپل وطن ته
مړ بلبل به رسوئ وخپل ګلشن ته
ښخوئ به ما په پاک افغانستان کې
د پروتو ،ننګیالیو په جهان کې
زما په شنخته به لیکئ خلمیو ! دا
((دلته ښخ دی پردېس شوی بېنوا))

دبېنوا دشعر بېلګه:

غلی شانته انقلاب

نسیم ووې د ګل غوږ کې، بدل شو د یارانې رنګ
غلی شـــانته انقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ
ورسره نوي رنګونه   رنګارنګ تحولونه
کړي سمسور به زاغ رغونه
نوی ساز نوی آواز دی، هم شو نوی د نغمې رنګ
غلی شـــانته انقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ
نوی دام نوی صیاد دی   نوی چل نوی بېداد دی
نوی آه نوی فریاد دی
هوښیاري صـید لره بویه، بدل شوی د دانې رنګ
غلی شانـــتــه انقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ
لري نوي محبسونه   نه یو سرای نه یوه خونه
حبسوي لوی هېوادونه
چې بندي پرې نه پوهیږي، د اسې شـو د زولانې رنګ
غلی شانته انــقــلاب دی ، بــدلــوي د زمانې رنګ
طلایي جام کې د دور   شراب زهر دي په دور
نوښېدل یې غواړي غور
ای سرمست زلمیه پام کړه، بل راز شو د میخانې رنګ
غــلی شانته انــقـــلاب دی ، بدلـوي د زمانې رنګ
سره واوښتل قومونه   ویښ خبر شول له ژوندونه
د ویدو شول وران کورونه
ګوره کله به شـي نوی د پښتون د کاشانې رنګ
غلی شانته انـقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ

پوهاند عبدالشکور رشاد (1300 – 1383 ه.ش)

پوهاند اکاډیمېسن عبدالشکور رشاد ، د عبدالغفور خان زوی د حاجي محمد آیاز خان لمسی په ختېه بابړ، په (1300 ه.ش) کال کې د کندهار ښار د بابړو په کوڅه کې زېږېدلی دی، پنځه کلن ؤ چې په ښوونځي کې داخل شو، ښوونځي ته تر تلو دمخ یې قرآن عظیم الشان ختم کړی، بوستان، ګلستان، پنج ګنج او نور مروج فارسي کتابونه یې لوستي او دفقې شریفې په زده کړه یې پیل کړی ؤ ، د کندهار د ګنج په ښوونځي کې تر یوولس کلنۍ پورې زده کړه وکړه. په ښوونځي کې د هغه لیاقت اوازه دومره خپره شوه چې کله امان الله خان کندهار ته تللی ؤ نو د ګنج په ښوونځي د کوچني عبدالشکور ټولګي ته ورغی او ورته یې وویل: ((بچیه زه ستا په خاطر دې ټولګي ته راننوتم)).

استاد اوه ویشت کلن ؤ چې د لوړو زده کړو د حاصلولو لپاره په خپل شخصي لګښت هند ته لاړ

او هلته يې پوره اوه کاله د ژبو، ادبي فنونو او تاريخي مسايلو په باره کې مطالعات وکړل.
علامه رشاد له (1337 لمريز) کال څخه د کابل پوهنتون په ادب پوهنځی کې د استادۍ دنده په غاړه لرله، استاد په فارسي او اردو ژبو دومره لاس بری ؤ لکه په خپله مورنۍ ژبه باندې. په عربي، روسي، انګليسي او هندي ژبو مسلط ؤ.
دهېواد له دغه لوی عالم څخه (32) چاپ شوي او (65) ناچاپ کتابونه او دغه راز په سل ګونو علمي او ادبي مقالې راپاتې دي.
دغه لوی عالم نامتو او دقيق ليکوال او څېړونکی، چې په سيمه او نړۍ کې يې خپله ځانګړې پيژندګلوي درلوده له يو عمر وياړلي خدمت نه وروسته د (83) کالو په عمر د (1383 لمريز) کال د لېندۍ په يوولسمه نېټه له دغې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې او خپل ټول ارادتمندان يې په خپلې مړينې د غم په ټغر کښېنول.
د پوهاند عبدالشکور رشاد د شعر يوه بېلګه:

حريت

دمــجـنـون ژونـدون به څه وي چې ليلا مري
څه په کار دی تش کالبوت چې زړه دچامري

زړه ډيــوه ده دا دخـټو پــه کـالب کې
خدای ومه کړه چې دا ډيوه دچـامري

چــې مـرغـه لاړشـي قـفـس د ماتېدو دی
که به زړه مري تش ګوګل دې لاپخوا مري

هــيــڅ مــمـکـن نـه دی پـا يـښـت دهــغه پرېي
زړه چې مري کالبوت مجبور دی خامخا مري

حــريــت دهــر مــلـت دبدن زړه دی
که دا نه و، هم ملت مري هم بقا مري

پوهاند صديق الله رښتين

پوهاند صديق الله رښتين د مولوي تاج محمد زوی د (1298 ه.ش) کال شا او خوا دمومندو په سره کمره کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې په خپله علمي کورنۍ کې کړې ده او بيا يې خپل تحصيلات د ننګرهار د هډې په نجم المدارس او د کابل په عربي دارالعلوم کې سرته رسولي دي.
پوهاند صديق الله رښتين د خدمت ډېره موده په پښتو ټولنه کې او د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي کې دا استاد په توګه تېره کړې ده.
پوهاند رښتين په ابتدا کې شعرونه هم ويل خو وروسته يې خپل وخت ژبپوهنې او ادبپوهنې ته وقف کړ.
رښتين د خپل وخت نوميالی ليکوال او قوي نثر ليکونکی دی، چې آثار يې په متفرق او مستقل

ډول د هېواد په مطبوعاتو کې خپاره شوي دي.

پوهاند صديق الله رښتين په (1377 ه.ش) کال دليندۍ په شپږمه نېټه په پېښور کې وفات او دننګرهار په بهسودو کې خاورو ته وسپارل شو.

د پوهاند رښتين نامتو اثار دادي:

د پښتو ادب تاريخ، د پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه، د پښتو لوی ګرامر (په پارسي ژبه) پښتو قصې، د هند سفر، پښتو ژبښودنه، د ژوند سندره، نوی ژوند، دميني هنداره، د پښتو مصدرونو لارښود او نور....

املاء او انشاء

املا د عربي کلمه ده په لغت کې مهلت ورکولو ته وايي.

په ادبي اصطلاح کې: خپلې خبرې په صحيح ډول ليکل دي که څوک له ځان نه څه نشي ليکلی، مګر د بل ليک له مخې نقل کولای شي دغه نقل ته املاء نشو ويلې.

املايي لارښوونې

داملاء خاوند بايد دا لاندې ټکي په نظر کې ونيسي:

۱. څه چې ليکې بايد د صحيح تلفظ له مخې يې وليکي او په غلط تلفظ پسې لاړ نه شي په هره ژبه کې د عوامو تلفظ او صحيح تلفظ يو څه فرق لري.

ځينې الفاظ شته، چې په ويلو کې يو راز او په ليکلو کې بل راز دي.

لکه د پښتو په عامه محاوره کې (الک) ويل کيږي، مګر په ليکلو کې (هلک) ليکل کيږي.

همدا رنګه په دري ژبه کې چې (او) ويل کيږي او (آب) ليکل کيږي.

۲. د ګرامر مراعات: په ليکلو کې بايد د صرف او نحوي مراعات وشي. ځينې جملې په وينا کې دومره لنډې شوې دي، چې په ليک کې نشته. لکه (څيکې) ويل کيږي او په پښتو ليک کې بيا همدا کلام (څه يې کوې؟) ليکل کيږي.

په دري ژبه کې هم (مچم) ويل کيږي او (من چه ميدانم) ليکل کيږي.

۳. دوه بيلې کليمې به يو له بله ليکلو کې نه نښلوو. ياني دا راز کلمات (لوی کور)، (ټول سړي) بايد دا سې ونه ليکو: (لويکور، ټولسړي).

۴. که له دوو کلمو څخه يوه کلمه جوړه شوې وي، لکه (ټوليمشر)، (ټولواک) بيا يې په ليک کې بيلول ښه نه دي. همدا ډول د (بيلتانه) کلمه (بې لتانه) غوندې ونه ليکو چې مانا يې تغيرپيدا کوي.

۵. د کلماتو په ليکلو کې دا مراعات هم ضرور دی، چې يوه کلمه د يوې بلې کلمې په شان ونه ليکو او څومره چې کيدی شي د التباس او اشتباه مخه ونيسو.

مثلاً (پوښتنه) د تپوس په مانا او (پښتنه) د پښتون مؤنثه کلمه بايد په ليکلو کې فرق ولري.

همدا رنګه (ګوډ) او (ګډ) بايد يو شان ونه ليکو او نه (پريښی) لکه (پرې ايښی) وليکو. (نوی) د جديد په مانا او (نه وي) د نباشد په مانا په ليکلو کې بايد فرق ولري.

۶. په پښتو کې دنفي توري او دنهي توري (نه، مه) له افعالو څخه جدا ليکل کيږي. لکه: (نه ځي، نه

کوي ، نه ویني، مه وایه ، مه کوه ، مه ځه ، مه غواړه) مګر په (نشي ، نشته ، نګړي ، مشه ، مکړه) کې یې ډېرۍ متصل لیکي.
۷. پښتو توری:
په پښتو ژبه کې ځینې خاص توري شته ، چې په فارسي او عربي کې نشته ، ددغو تورو ځای پیژندل او په خپل محل کې یې لیکل په پښتو املاء کې ډیر اهمیت لري. چې هغه دادي:
ښ: دا توری ځینې پښتانه لکه (خ) یا (خ) ته نژدې تلفظ کوي او ځینې پښتانه یې د (ش) غوندې ادا کوي. نو د غه دوه یا درې مختلف غږونه چې یو ځای او بل ځای د لهجې د اختلاف په وجه د ځینو لغاتو په تلفظ کې شته ، په لیک کې ددغه توري په لیکلو دغه اختلاف له منځه تللی او د لیک یو راز والی یې ساتلی دی.
داتوری په داسې لغاتو کې لیکل کیږي. لکه: (ښه ، لو ښی ، اوښ) چې څوک یې یو راز او څوک یې بل راز تلفظ کوي.
کومه کلمه، چې یو ازې د (خ) یا یوازې د (ش) اواز راغلی وي هلته دغه توري نه لیکل کیږي ، لکه (ختہ ، خاوره ، شګه ، شولې ...) په دغه اساس باید (خندل) چې د (خندیدن) په مانا دي په (خ) ، او (شیندل) د پاشیدن په مانا په
(ش) ولیکو. او (ښندل) چې دقربانولو او سرورکولو په مانا سره په پښتو (ښ) ولیکل شي، چې ددرې واړه کلمو مانا ګانې وساتو.
ږ:- د پښتو داخاص تو ری هم ځینې پښتانه لکه (ژ) او ځینې یې لکه (ګ) اداکوي ، نو ځکه په هغو کلمو کې لیکل کیږي، چې د لهجو د اختلاف په وجه دغه دوه آوازونه ولري. لکه: (ږلی ، لږ ، کوږ) دغه توري هم په پښتو املاکې دلهجو د اختلاف مخه نیولې ده او دلیک یو والی یې ساتلی دی.
کومې کلمې چې یو ازې د(ګ) یا یوازې د (ژ) اواز لري هلته دا توری نه لیکل کیږي او هماغه (ګ) یا (ژ) لیکي. لکه: (مالګه ، ګوړه ، ژبه ، ژرنده ، ژوند ...)
ځ:-دا هم پښتو خاص توری دی له (ز) نه لږ غوندې دورند دی ، چې په ځینو پښتو کلمو کې یې لیکل ډیر ضرور دی ، لکه: ځان ،ځنډ ، ځنګل ، او داسې نور....
په پښتو کې ځینې نشته لکه (ځه) چې دتللو امر دی او په پښتو (ځ) لیکل کیږي که دا کلمه په (ز) ولیکو نو (زه) د مفرد متکلم ضمیر ترینه جوړیږي.
همدغه شان (ځوړ) د (ښکته) په مانا که په (ز) ولیکل شي نو د (زوړ) سره مشبه کیږي.
دا توری د پښتو په پخواني رسم الخط کې ډیر استعمالیده ، اوس یې په ځینو لغاتو کې ځای (ز) نیولی دی. لکه: (زما ، زغمل ، زوی ، ګرزیدل او داسې نور... دغه تغیر او تحول ته چې ګورو دا اټکل کیدی شي، چې څه زمانه وروسته به دغه توری له منځه ولاړشي او خپل ځای به (ز) ته پریږدي ، ځکه چې ددې دواړو تورو ترمنځ په تلفظ کې دومره فرق نشته ،چې هر څوک پرې پوه شي او له یوه ګُلي قانون لاندې راشي. دلته چې کومه قاعده یو څه تطبیق پیداکوي هغه داده چې: کوم کلمات،چې په درې کې په (ج) ویل کیږي او په پښتو کې هماغه کلمات په (ځ) نو هلته باید همدغه پښتو (ځ) ولیکو .لکه: ځوان ، ځان ، ځنګل اوداسې نور.
سربیره پردې په هغو کلمو کې یې هم لیکل ضرور دي، چې که په (ز) ولیکل شي نو له یوه بل پښتو

لغت سره القباس پیدا کوي ، لکه ځړیدل ، زړیدل.
ځ:۔ دا هم پښتو توری دی چې په فارسي او عربي کې نشته ، تلفظ یې (س) ته نږدی دی او ځینې کسان یې په ځای د (س) توري استعمالوي. که د دغه توري په ځای (س) ولیکل شي نو د ځینو کلمو مانا بدلیږي ، لکه: (څټ ، څوک) چې (سټ ، سوک) ترې جوړیږي.
ډ ،ړ ،ټ: دا درې توري په پښتو املا کې ډیره زیاته برخه لري چې ځای پیژندل یې ډیر ضرور دي او صحیح تلفظ یې په کار دی ، که یو لیکوال په لیکو کې او ویونکی په وینا کې (ټ) په (ت) او (ړ) یا (ډ) په (د) بدل کړي ، دا املاء او دغه تلفظ صحیح نه ګڼل کیږي او په ځینو لغاتو کې د مانا د تغیر مو جب ګرځي.
لکه: (ور، ټول ، ډار) چې (ور ، تول ، دار) ترې جوړیږي.
ڼ:۔ دا توری له (ن) څخه دروند ادا کیږي ، لکه: (منه ، بڼ ، تنې) ب کلمو کې. پخوا نو لیکوالو او اوس ځینو لیکوالو دا توری دا سې (نړ) لیکلی دی چې دوه توري (ن+ړ) یې یو ځای کړي دي او د یو توري نو م یې پرې ایښی دی ، دا توری باید په بسیط ډول (ڼ) ولیکو ځکه چې په مرکب ډول یې لیکل په ځینو کلمو کې مشکلات پیښوي.لکه: (نړۍ ، خونړۍ ، کونړ، نړول ، نړیدل) او دا سې نور.

په پښتو کې د (ی) ډولونه:

په پښتو املا کې (ی) په پنځه ډوله لیکل کیږي.
۱۔ملنه یا معروفه (ی) : هغه ساکنه (ی) چې د مخه توری یې زور ولري او نرم ویل کیږي.لکه (سړی ، لیونی ، منګی).
۲۔ځرګنده یا نسبتي (ي) : چې د مخه توری یې خالص او ثقیل زیر ولري. لکه:(ویر ، بیاتي ، ښادي ،دوستي).
۳۔مجهوله یا اوږده (ې) : چې د مخه توری یې خفیف زیر ولري او اوږده ویل کیږي. لکه: (هېر ، تېر، شیدې ، مستې).
۴۔لکۍ داره یا تانیثي (ۍ) : چې د مخه توری یې زورکی لري یو اځی د کلیمې په پای کې راځي ،لکه: (څپلۍ ، نجلۍ ، شینکۍ).
۵۔فعلي یا همزه لرونکي (ئ) : د مخاطب افعالو په پای کې راځي ،لکه: خورئ ، وړئ) د امر په ډول (وخورئ ، مه ژاړئ).
د دغو یا ګانو په بدلون کله یو لغت په بل لغت بدلیږي او په مانا کې یې تغیر راځي.لکه: (مېنه ، مینه ، غړی ،غړۍ ، شړۍ ، مه خورئ ، ګورئ)
دیا ګانو برخه په پښتو ګرامر کې هم ډیره زیاته ده ،یانې مفرد ،جمع ، مذکر او مؤنث فعل او اسم ،غایب او مخاطب د همدغو یاګانو په وجه معلومیږي.
که دا یاګانې په لیکلو کې فرق ونلري نو (وړۍ) د (پشم)په مانا او (وړئ) د وړلو به مانا به یو راز لیکو ، (راځي) چې دا مر صیغه ده د (راځي) سره به په لیک کې یو ډول وي.

دلیکوالۍ فن یا انشاء

لیک د فکر او احساساتو دانتقال یوه وسیله ده ، چې په هغه کې دیو لړ منل شوو اشارو او علامو

څخه کار اخستل کيږي، يا ليک هغه علامې او سمبولونه دي، چې داواز د ثبتيدو لپاره وضع شوي وي.
د ليک پيدا ايښت د بشر ژوند ته نظم ور وبا ښه اود تاريخ اغاز ورسره وشو.
دليک پيدا ايښت دبشري تجربو دليږدولو وسيله شو اودبشر تجربو ته يې داسې تسلسل ورکړ، چې نسل په نسل پرمختيايي ګامونه واخلي.
دليک همدې ارزښت د سواد عاميدل او د لومړنيو زده کړو جبري کيدل رامنځ ته کړل او اوس دنړۍ په ډيرو وروسته پاتې هيوادونو او ټولنو کې هم هڅه کيږي، چې ماشومان ليک او لوست زده کړي او دعلم له نعمت نه برخمن شي.
نو په دې بنا ليک لوست يو ضرورت دی خو تر هغه راوروسته ليکوالي بيا فن دی، چې خاصه زده کړه او خاصې لارښوونې غواړي.
اوس چې موليک وپيژاند ، نو د انشاء يا ليکوالۍ فن به هم په لنډ ډول درو پيژنو :
انشاء يا ليکنه:
انشاء د شروع «ايجاد» او وضع کولو مانا لري. خو په ادبياتو کې ددې کلمې متد اوله مانا وضع کول او منځ ته راوړل دي. يانې ديو نوي شي پيدا کولو ته انشاء وايي.
په ادبي اصطلاح يو نوی فکر او نوی خيال په الفاظو کې څرګندول انشاء ده.
«ليکوالي په عامه مانا هغه فن اوليکنی هنر دی ،چې دهغه په وسيله کولی شو خپل افکار يا په بله وينا هغه مفاهيم ، مطالب اومعلومات، چې زموږ په ذهن کې دي په ليکنې ښه په ډيره اسانه او اغيزمنه توګه نوروته ورانتقال کړو.
دليکوالۍ د فن اومسلک لمن ډيره پراخه او ټولنيز ارزښت او اهميت يې ډير دی.له عادي يادښتونو ، شخصي او رسمي يا اداري ليکونو څخه نيولې بيا دلوړو تخليقي او تحقيقي ليکنو (انشاء) تر بيلا بيلو ډولونو پورې ددغه فن په پراخه لمن کې رانغښتي اوهر هغه څوک، چې خپل فکر ، پوهه او معلومات په ليکلې ښه په سمه او مناسبه طريقه نوروته ور رسول يا ليږدول غواړي دغه فن ته اړتيالري.
دليکوالۍ پوهه او هنر تر ډيره حده د ادبي اوعلمي اثارو په مطالعه او پرله پسې مشق او تمرين تر لاسه کيږي. ځکه چې ددغه فن بنسټ د زده کوونکي په فطري استعداد ،ذوق، تخيلي او بديعي ځواک ولاړ دی او دا په ليکوال پورې اړه لري، چې د خپل بديعي او تخيلي قوت په ملتيا دليکنې لپاره څه ډول مناسب الفاظ او د ليکنې کوم فورم او انداز وکاروي.
دليکوالۍ د فن په هکله څو عمومي لارښوونې او پاملرنې
په ښه او سمه توګه د ليکوالۍ د فن دزده کړې او پر هغې د پوهيدنې لپاره ډيرې آغيزمنې لارې چارې شته، چې ددغه هنر د پوهانو او څيړونکو له خوا په ګوته شوي دي. موږ دلته د هغو پاملرنو او لارښوونو له جملې څخه مهمو يادونه کوو :
۱ـ کوم ليکونکی، چې په يوه موضوع کې څه ليکي لو مړی بايد يو معين مقصد او هدف ولري او بيا خپل فکر او خيال په ښکلو خوږو الفاظو سره په ښه ترتيب او صورت داسې څرګند کړي، چې د ليکونکي مطلب په ښه ډول ښکاره شي او په لوستونکي ښه آغيزه او تاثير وکړي.

۲ـ لیکنه باید ساده او عام فهمه وی. لیکوال باید د مفهوم د افادې لپاره داسې کلمات انتخاب کړي، چې د خلکو ذهن ته ډیر نژدې او عام فهمه وي. د لیکنې جملې یې لنډې، عبارتونه یې بې تکلفه او له تصنع نه خلاص وی.

۳ـ بې ضرورته اوږده مقدمه ، لیکنه بې خونده کوي ، نو ښه داده چې اصلي مطلب په څرګندو الفاظو کې نورو ته وړاندې شي. هڅه دې وشي، چې د متن لمن له هر ډول ابهام څخه پاکه وي.

۴ـ د لیکوال لپاره د ژبې پر ګرامري قاعدو پوهیدنه ضروري او اساسي شرط دی.
په لیکنه کې باید د امکان تر بریده د هر ډول ګرامري غلطیو مخه ونیول شي او ټول کلمات د ګرامري اصولو سره سم استعمال شي.

۵ـ په لیکنه کې دې تر ډېرې کچې پورې د ژبې معیاري لهجه په پام کې ونیول شي. تر څو د هغې ژبې نورلوستونکي وګړي یې له لیکنې څخه مطلوبه ګټه واخلي.

۶ـ لیکوال دې بې ضرورته د نورو ژبو لغات نه استعمالوي ، تر ممکنې اندازې پورې دې هڅه وکړي، چې د خپلې ژبې لغات استعمال کړي.

۷ـ په لیکنه کې باید د عطف او ربط توري ډیر او بې ضرورته استعمال نه شې ، ځکه چې د لیکنې لوستنه بې خونه کوي.

۸ـ لیکوال دې په لیکنه کې باید د ضعیفو ټکو او کمزورو استدلالونو څخه ډډه وکړي. هڅه دې وشي، چې لیکنه په پوخ استدلال او قوي منطق ولاړه وي.

۹ـ د مضمون او محتوا راښکون په لیکنه کې ډیر اهمیت لري. مانا په کلمو او جملو کې داسې ترتیب شي ، چې له پیل څخه تر پایه پورې لوستونکي په ځان پسې راوکاږي او د لوستونکي تخیلي او فکري قوه د پایه پورې بلې خواته پرې نهږدي.

۱۰ـ لیکوال باید په خپله لیکنه ټینګه عقیده ولري او په دې ډاډ من وي څه چې لیکي هغه یې د زړه او ضمیر غږ دی ، په لیکنه کې باید صداقت او صمیمیت موجود دي څو په لوستونکو مطلوبه آغیزه وکړي.

۱۱ـ په لیکنه کې د نظم او ترتیب مراعات ډیر ضروري دی ، ځکه چې په انشاء او لیکنه کې د الفاظو ،کلمو ،جملو او عبارتونو ګډوډي او بې ترتیبي ستر عیب ګڼل کیږي.
موضوع په داسې ډول باید وڅیړل شي، چې مضمون له پیله تر پایه د مانا او محتوا له مخې بې نظمه او بې ترتیبه نه وي.

۱۲ـ د نوښت او ابتکار قوه په لیکنه کې ستر اهمیت لري. د لیکوالۍ د هنر یوه ستره ځانګړنه داده، چې لیکوال له کتنو او اوریدنو څخه نوي ، نوي مضامین پیداکوي او له عادي پیښونه نوي نتایج اخلي نو ابتکار د انشاء معنوي برخه ده او د انشاء ستر صفت دی.
د لیکوال د تخیلي ځواک خومره والی او څنګه والی د هغه په لیکنه جوته آغیزه لري. تخیلي ځواک د ابتکار او نوښت تو منه ده، خومره، چې د لیکوال او شاعر تخیلي قوه پیاوړې وي په هماغه پیمانه یې د ابتکار او نوښت قوت ډېر وي.

۱۳ـ په لیکنه کې د لیکوال ټولنیز شخصیت او اخلاقي شجاعت ډیره آغیزه لري.
همدغه احساس هغه ته دا جرأت ورکوي، چې ټولنیز واقیعتونه ، حقایق او دردونه په صراحت سره

بیان کړي.
۱۴ـ دمنل شویو عقیدوي ، کلتوري او ټولنیزو معیارونو په چوکاټ کې فکري ازادي د لیکوالۍ لپاره یو ه ضروري اولازمي ځانګړنه ده. څومره، چې لیکوال ازاد فکر کولای شي لیکنه یې په هماغه پیمانه ابتذال نه لري ، تجدد او نوښت پکې زیات وي.
۱۵ـ لیکوال باید دلیکنې لپاره داسې موضوع انتخاب کړي، چې پکې پوره معلومات ولري. پر موضوع بشپړ حاکمیت لرل د ښې لیکنې اساسي شرط دی.
۱۶ـ دلیکنې دعنوان په ټاکنه کې باید ډیرِ غور اودقت څخه کار واخیستل شي ، داسې عنوان وټاکي، چې معنوي جامعیت ولري او لوستونکي ته تر ډیره حده دلیکنې داساسي هدف دپس منظر مفهوم افاده کړي.
۱۷ـ تر لیکلو ورسته خپله لیکنه څوځله ولولي ، ستاسې هر ځل لوستنه به په لیکنه کې خامخا لفظي او معنوي اصلاح او سمون راولي.
۱۸ـ که کیدلای شي خپله لیکنه تر لیکنې وروسته خپل خوا خوږي ته چې تر تاسې یې علمیت ، پوهه او استعداد لوړ اودلیکوالۍ په فن کې یې تجربه ډېره وي دکتنې لپاره ورکړئ ، کیدای شي د لیکنې د سمون او بشپړتیا په برخه کې په زړه پورې مشورې درکړي.
۱۹ـ په لیکنه کې دمعلوماتو منابع او مآخذ ښودنه اساسي شرط دی. دا چار ستاسې علمي اومعلوماتي کمزوري نه ده ، بلکې دلیکنې ارزښت مو لاپسې زیاتوي.
۲۰ـ په لیکنه کې دلیک نښو استعمال لازمي او حتمي دی ، هر لیکو ال ته ددغو نښو نښانو زده کړه ، پرې پوهیدنه اودهغو داستعمال د ځای پیژندنه ضروري ده.

د مقالې لیکنې عمومي چوکات

د یوې بشپړې ،علمي، تحقیقي معیاري مقالې په لیکنې چوکاټ کې دا لاندې درې برخې شاملې دي:
۱ـ سریزه ۲ـ اصلي مطلب ۳ـ لنډیز او نتیجه
۱ـ سریزه:ـ سریزه (مقدمه) دلیکنې لومړۍ ،خو اساسي برخه ده. په سریزه کې لیکوال معمولاً هغه کلمات او عام ټکي راوړي، چې وروسته وربانديې په اصلي برخه کې خبرې کیږي.
سریزه د لیکنې دروح،محتوا او مانا د هنداری حیثیت لري. څومره چې لنډه خو جامع جذابه ،خوندوره او منظمه وي هغومره پکې دهڅونې قوت ډېر وي.
په مقدمه کې لیکوال په عمومي توګه دایادونه کوي، چې ولې یې داموضوع انتخاب کړه،څه دلچسپي یې ورسره لرله،دلیکنې هدف او اهمیت یې څه دی؟
۲ـ اصلي مطلب:
دادلیکنې تر تولو مهمه برخه ده، چې لیکوال پکښې د ټاکل شوي عنوان تر مفهوم لاندې په اصلي اومرکزي موضوع بحث کوي. په دې برخه کې ټول اړوند مطالب په بیلوبیلو پراګرافونو کې او که لازمه وليدل شي په بیلوبیلوځنګزنو (بغلي) عنوانونوکي یو په بل پسې تشریح او څیړله کیږي .
په اصلي برخه کي باید ټول مسایل داصلي موضوع پرشاوخوا وڅرخیږي. په دې برخه کی تر ټولو مهم او سترکار دواقیعتونو څیړنه اوسپړنه ده. لیکوال باید هڅه وکړي، چې موضوع دحقایقو په رڼا

کې لوستونکو ته وړاندې کړي او د موضوع تیاره اړخونه د پاخه استدلال او منطق په رڼا کې روښانه کړي. د برخو ترمنځ باید منطقي ترتیب په پام کې ونیسي.
لیکوال په دې برخه کې معمولاً نظریات او شواهد را ټولوي او بیا پرې د خپل فکري او علمي قوت په وسیله یوه رایه قایموي.
۳.لنډیز او پایله:
دا د لیکنې وروستۍ برخه ده. په دغه برخه کې لیکوال لومړی د ځینو هغو مهمو مسایلو چې د اصلي موضوع د روښانتیا او ثبوت لپاره په بیلا بیلو پراګرافونو کې راغلي په ډېر لنډیز سره یادونه کوي او بیا په ځانګړې لیکني مهارت سره له ټول بحث او لیکنې نه یوه لنډه ،خو جامع پایله اخلي او لوستونکي ته یې وړاندې کوي.
دلنډیز او پایلې په برخه کې کله– کله لیکوال د هغو ټکو لنډه غوندې یادونه هم کوي، چې د موضوع په روښانتیا کې پوره آغیزه لري خو له ده څخه د اصلي برخې د لیکنې پروخت پاتې شوې او هیر شوې وي.
یادونه: دیوې علمي، بشپړې او جامع لیکنې (مقالې) په چوکاټ کې د پورته یاد شویو درې واړو برخو شته والی اساسي شرط دی ، چې له هغو پرته دیوې مقالې جوړښت نیمګړی دی.
د کتاب لیکنې عمومي چوکاټ
دیو علمي او تحقیقي کتاب لیکنې په چوکاټ کې دا لاندې برخې شاملې دي:
۱.کتاب پیژندنه ۲.فهرست ۳.سریزه ۴.اصلي موضوع
۵.لنډیزاو پایله ۶.تعلیقات ۷.نوملیک ۸.مآخذونه
۱.کتاب پیژندنه:
د کتاب پیژندنې په برخه کې معمولاً د کتاب نوم ، د مؤلف یا ژباړونکي نوم ، د خپرونکې موسسې ،ادارې یا شخص نوم ، د خپریدو نیټه ، د چاپ شمیر او ... راځي.
۲.فهرست:
دا د کتاب هغه برخه ده، چې معمولاً د کتاب تر دویم سرلیک او کتاب پیژندنې وروسته راځي.په فهرست کې ټول هغه سرلیکونه، چې د کتاب په بیلا بیلو برخو کې راغلي په ماده وار لست کې د شمیرنې او مخ ښودنې سره راځي.
۳.سریزه یا سریزې:
پر کتاب معمولاً دوه ډوله سریزې لیکل کیږي:
لومړی هغه، چې د نورو له خوا د لیکوال پر اثر لیکل شوې وي. په دغو لیکنو کې د سریزې لیکوال ،د کتاب محتوی، علمي او فني اړخونه په پوره غور ارزیابي او په ګوته کوي.
په کتاب کې دراغلو مطالبو علمي ، هنري او ادبي ښیګڼې ارزښت او اهمیت لوستونکو ته ښیي.
دوهم هغه سریزه ده، چې پخپله د لیکوونکي یا ژباړونکي له خوا لیکل کیږي:
که په یو کتاب کې هر څومره سربزې راغلې وي هر یوه یې په ځانګړو مخونو کې د خپلو ټاکلو سرلیکونو لاندې راځي. د کتاب لیکوال نورو ته د درناوي لومړی د نورو او بیا خپله سریزه راوړي.
هڅه دې وشي، چې د کتاب سریزه ډېره جامع ،منظمه او جذابه وي تر څو په لوستونکي کې

دلوستنې ذوق او هڅونه زياته کړي او هغه مجبور کړي چې په اثر کې شامل مطالب په پوره غور او مينه تر پايه پورې ولولي.

۴-اصلي موضوع:

په علمي او تحقيقي اثارو کې اصلي موضوع د کتاب هغه برخه تشکيلوي چې د کتاب اړوند مطلب د ټاکل شوي عنوان تر مفهوم لاندې په اصلي او مرکزي موضوع بحث کوي.

د کتاب په دې برخه کې ټول مطالب په منطقي توګه يو په بل پسې څېړل کېږي.

ليکوال د موضوع د اهميت له مخې په پيل کې مطالب په بېلا بېلو څپرکو ويشي او بيا د هر مطلب په اړونده څپرکو کې تر لويو او څنګزنو (بغلي) سرليکونو لاندې معلومات وړاندې کوي.

ليکوال د ليکنې په دغه برخه کې د بېلا بېلو منابعو څخه مطلوب معلومات ،نظريات او شواهد راټولوي او د خپل علمي او فکري استدلالي قوت په ملتيا هغه تحليل ، توضيح او تشريح کوي په پای کې يوه جامع نتيجه ترې راوباسي

۵-لنډيز او پايله:

دا د ليکنې هغه برخه ده، چې تر اصلي موضوع وروسته راځي. دلنډيزاو نتيجې کموالی ،زياتوالی دمتن دا صلي برخې په حجم او د مطالبو په تنوع پورې اړه لري.

ځينې ليکوالان د اصلي برخې د هرې موضوع او فصل لنډيز د هماغه فصل په پای کې راوړي او ځينې بيا د ټولو فصلونو يو لنډ خو جامع جاج اخلي او د کتاب د اصلي برخې تر پای ته رسيدو وروسته يې په يو يا څو ځانګړو مخونو کې راوړي.

دلنډيز او نتيجې په برخه کې ليکوال هڅه کوي، چې د کتاب د اساسي موضوع په رڼا کې د ټولو مهمو ټکو او مسايلو لنډه او ځغلنده يادونه وکړي او بيا ترې د خپل علم ،پوهې، فکر ،بصيرت او استعداد په قوت په ډير دقت سره يوه لنډه او جامع نتيجه واخلي او لوستونکي ته يې وړاندې کړي.

۶-تعليقات:

په تعليقاتو کې معمولاً په متن کې د شاملو مهمو لغاتو ، اصطلاحاتو ، پيښو ،مسايلو او داسې نورو اجزاؤ مدلله او مستنده شرحه راځي، چې زياتې تشريح او توضيح ته ضرورت لري.

خود کتاب د مخونو په لمن ليکونو کې نښې ځائيدای. پخوا به دا کار د کتابونو د مخونو په څنډو (حاشيو) کې ترسره کيده.

په کتابونو کې د تعليقاتو د برخې شته والی ډير زيات علمي ارزښت لري له يوې خوا د اثر له لوستونکي سره د متن د مشکلو برخو په تحليل او پوهيدنه کې بشپړه مرسته کوي او له بلې خوا يې د معلوماتو پانګه ورزياتوي او د څېړنې نوي موضوعات ورته رالوڅوي.

۷-نوملېک:

په مردف ډول (د الفبا په ترتيب) په کتاب کې د شاملونومونو ،ځای نومونو ،شخص نومونو.... اصطلاحات او داسې نور لستونه ، چې د کتاب په پای کې د اړوند مخونو د شمېر سره يو ځای معمولاً تر مأخذونو د مخه راځي.

د تعليقاتو سره د نوملېک تو پير دا دی، چې په تعليقاتو کې نومونه يا اصطلاحات په تفصيل سره شرحه او څېړل شوې وي، خو په نوملېک کې يوازې د متن هغه مخونه ورسره ښودل شوي وي، چې

دغه نومونه او اصطلاحات پکښې راغلي وي.
۸ـ ماخذونه:
په دغه برخه کې هغه چاپ او ناچاپ شوي آثار او منابع په ګوته کیږي، چې د اثر لیکوال ور څخه دلیکلو پروخت استفاده کړې وي.
په مآخذ ښودنه کې داثر دلیکوال تخلص ، نوم، داثر نوم،د خپریدونکی موسسې ، اداري یا شخص نوم ،دخپریدو ځای نوم، د خپریدونیټه ،شمیر او د کتاب دمخونو شمیره راځي.
ځیني لیکوالان مآخذونه داړوندي پاڼي په متن کې په عددونو سره په نښه کوي او په لمن لیک کې یې دیادوشویو مشخصاتو سره سم د مآخذ یادونه کوي. او ځیني لیکوالان دکتاب په متن کې هماغه برخه، چې دبل اثر نه یې په کښې مستقیمه یا غیر مستقیمه استفاده کړې په عدد سره په نښه او دکتاب یا دهغه دهر فصل په پای کې په ترتیب سره په یو مشرح نوم لړ(لست) کې راوړي.
ځیني بیا داثر په اړوندو مخونوکې ځای نه په نخښه کوي خو په پای کې په عمومي توګه دهغو اثارو نومونه اخلي، چې په کتاب کې یې ور څخه لږه یا ډیره استفاده شوې ده.
د خیړنې د علمي میتود له مخې غوره داده، چې دمتن په هره برخه کې، چې له نورو اثارو څخه په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه مطالب اومفاهیم راخستل کیږي باید ،چې په عدد په نښه شي او بیا یې په لمن لیک (پاورقي) او یاد کتاب په پای کې په ترتیب سره دمآخذ ښودنې له اصولو سره سمه یادونه وشي.

لیک نخښې(Punctuation)

بې له تورو نه یو شمېر علامې ،ټکي او نښې شته، چې دلیک په لوستلو کې دخل لري،او یوه جمله یا کلمه د اشتباه او ابهام څخه ژغوري. یانې ددغو نښو اوټکو په لیکلو سړی پوهیږي، چې په کوم ټکي باید ودریږي اوکومه جمله یا کلمه په بلې پورې وتړي.
دتعجب ، نوا ، پوښتنې ، خطاب اونورو کیفیاتو څرګندونه په همدغو نښو اوټکیو کیږي چې په لیکو کې ډیر اهمیت لري.ددې لپاره، چې دلوستونکي سره دلیکنې په برخه کې پوره مرسته شوې وي په لنډه توګه ځیني لیک نخښې اود هغو د استعمال ځایونه در پیژنو ، کوم چې په پښتو اودري ژبو کې یې استعمال او کارونه دود ده:
۱ـ ټکی (.) Full stop :
دانخښه په لاندې دوو صورتونو کې استعمالیږي:
۱ـ د هرې بشپړې او مستقلې جملې په پای کې د پوره توقف ، سا اخیستنې اوودریدنې لپاره راځي.
لکه: د حقې لارې لاروی ددین او وطن نه ددفاع په سنګر کې پراته دي.
۲ـ په لیکنه کې ترمخففاتو وروسته راځي اودغسې هر توری د خپل ځانګړې کلمې د مفهوم دافادې نمایندګي کوي.لکه: د م.م. سره منشي وویل چې باید په منځنې ختیځ کې دایمي سوله منځ ته راشي .
یادونه: (م.م) ملګري ملتونه مخفف شکل دی.

۲ـ ندایه (!) یا « Exclamation »:
دا نښه په لاندېنيو ځايونو کې استعماليږي:
۱ـ د افسوس ،ارمان او حيرانتيا په وخت کې .لکه:
چې زه هم در سره وای ! ـ ارمان چې تللی وای !
۲ـ د غږ او بلنې په وخت کې: احمده ! دلته راشه.
۳ـ د خطاب لپاره: ښاغلو ! درنو حاضرينو ! ورونو !
۴ـ د امر په وخت کې: ودرېږه ! پاڅېږه ! لاړشه !
۵ـ د هيلې او خواهش د څرګندونې په وخت: کاشکې احمد مې ليدلای وای !
۶ـ د تحسين او آفرين پر وخت: آفرين ! ستا په همت .شاباس ! ښه کار دې وکړ
۷ـ د استهزا او تمسخر په توګه کوم ناپوهه شخص ته وو ايې: نابغه ! دا دې څه کار وکړ. دې عقلمند ! ته ګوره !
۳ـ چپه پيښ (،) یا « Comma »
په ډېرو لويديځو هيوادو کې کامه د (و) په ښه ليکل کيږي ، مګر په پښتو او دري کې د دې لپاره، چې (واو) ونه لوستل شي سرچپه يې ليکي. په ليک نښو کې کامه ډېره زياته استعماليږي او په مختلفو ځايونو کې ترينه کار اخستل کيږي.(دې نښې ته بيلوونې هم وايي) په َعمومي توګه يې د استعمال ځايونه دا دي:
۱ـ د بيلولو د پاره:
الف ـ اوږدې جملې، چې د څو ساده جملو څخه جوړې شوې وي د کامې په واسطه بيليږي. لکه: دالاندې مثالونه:
ـ توريالي زمالیک ته تر اوسه ځواب نه دی ورکړی ، دا ګمان مې هم نه شې ، چې له دې وروسته به ځواب ورکړي.
ـ ده زيار ويوست ، چې سنک له ځانه سره ملګری کړي ، مګر سنک هيڅ کله دانه شو منلای ، چې بې سببه د چا دښمنې ته ملا وتړي.
ـ څه دې چې راکړه ، بيرته مې درکړه.
ب ـ يوه مقدماتې فقره د اصلې جملې نه جلا کوي .لکه:
ـ د دې تړون پر اساس ، غړي هيوادونه تعهد کوي ، چې په ښوونه اوروزنه کې له تبعيض نه کار نه اخلې.
ج ـ معترضه جمله يا فقره د دوو کامو ترمنځ نيول کيږي .لکه: زه به د خالي په ورځ ، که خيروي ، ستاسې کره درشم.
د ـ د يولړ مختلفو کلمو د جلا کولو لپاره .لکه: ده خپل کتابونه ،قلمونه ، بکس، اونور تدريسي لوازم له ځان سره واخستل.
ه ـ د دې لپاره چې جمله يا شعر غلط ونه لوستل شې. لکه دا لاندې مثالونه:
ما ،ماما ته يو کتاب راوړ.
ماما ، ماته يو کتاب راوړ.

د رحمان بابا دالاندې بيت وګورئ، چې لومړی شکل يې سم او دوهم شکل يې نا سم دی:
۱- ډېر عزيز دې موم دلان تر سنګدلانو
ته يو ځاځکی شه داوښکو ، ګوهر مشه
۲- ډېر عزيز دې موم دلان تر سنګدلانو
ته يو ځاځکی شه ، د اوښکو ګوهر مشه
و:- دزرګونو اوميليونونود بيلولو دپاره لکه:
نوموړي شرکت په تير کال کې پنځه ديرش ميلونه (۳۵۰۰۰،۰۰) افغانۍ خالصه ګټه کړې ده.
يادونه: د تيليفون شمېره ، دکوځې شمېره او تاريخي کلونه کامه نه غواړي.

-دتړلو او بندولود پاره:
الف:- په معترضه فقرو او الفاظو پسې بايد کامه راوړل شي.لکه: زما په عقيده ، که ته موافقه کوې يا يې نه کوې ، دشکسپير سره په ډرامه ليکلو کې څوک سيالي نه شي کولی.
ب:- له منادی نه وروسته کامه راځي.لکه: زلميه ، اجازه ده، چې له تانه پوښتنه وکړم ؟
چې کرې ، هغه به ريبې- مه کوه په چا ، چې ونه شي په تا
۴- دپوښتنې نخښه: (؟) يا «Question mark »
دا نښه دسوال او پوښتنې علامه ده. د هرې جملې په اخير کې چې دغه نښه وي هغه جمله دا استفهام مانا لري.
دپوښتنې نښه په لاندې ځايونوکې استعماليږي:
۱- دمخامخ پوښتنې په پای کې: ستا نوم څه دی ؟ته څه وخت هرات ته ځې؟
۲- د شک او ترديد دپاره: که دکوم چاد زيږيدنې يا مړينې او يا دکومې تاريخي واقعې د پيښيدنې په کال کې شک موجود وي تر شکمنې نيټې وروسته د پوښتنې علامه په قوسونوکې راځي.
لکه: درحمان بابا دمړينې کال ۱۱۲۸ه،ق (؟) دی.
يا : دی د خپلو همکارانوسره همدردي (؟) لري.
۳- کله چې په يوه جمله کې دننه کومه پوښتنه راغلې وي ، لکه: دولس کاله پخوادې په ياد دي ؟ روسان له افغانستان نه په ماتې ووتل
۵- ممزه (ځنډ نخښه) (؛) يا «Semicolon »
دا نښه نه دټکي (.) په شان د بشپړ تو قف لپاره اونه د کامې (،) د لږ ځنډ او ساه اخستلو لپاره استعماليږي بلکې دداړوترمنځ ځانګړی حد او له دواړو نخښو سره توپير لري.
په لاندې ځايونوکې استعماليږي:
۱- که چيرې دوې جملې چې تقريباً يوه له بلې سره مساوي وزن او اهميت ولري څنګ په څنګ راشي دهغو ترمنځ ميمزه (؛) استعمالولې شو .لکه: لاندې مثالونه په تير کال کې حکومت د قاچاق مخه ونيوله ؛ بډې خور ته يې سزا ورکړه ؛ اختلاس کوونکي يې محاکمه کړل؛ او اجتماعي عدالت دتآمينولو په برخه کې يې په هر اړخيزو اقداماتو لاس پورې کړ.
يا :موږ دوی ته دليلونه ووېل ؛ ډېر عذرونه اوزاری مو ورته وکړې؛ له فشار او تهديد نه مو کار

واخیست ؛ خو دوی له موږ سره ملګر تیا ونه کړه او خبره یې راسره ونه منله.

۶.دندایې او سوالیې مرکب شکل(!؟):

کله کله ځینې لیکوال دسوالیې اوندایې علامې دواړه څنګ په څنګ دیوې جملې په پای کې راوړي ، خو شرط دادی،چې ندایه به لومړې او سوالیه به وروسته وي. په دې کې دلیکوال هدف دادی،چې دهغه په واسطه له یوې خوا دلوستونکي پاملرنه جلبوي او له بلې خوا یې پکښې پوښتنه غرض وي.

په لنډه وینا ویلای شو،چې دیوې ډیرې مهمې پوښتنې په پای کې دندایې اوسوالیې مرکب شکل راځي.لکه: ته نه یې خبر چې دافغان انګلیس په یوه جګړه کې دپنځلس زره انګریزي پوځ نه یواځې ډاکټر برایډن مړ ژواندی خلاص شو !؟

یا : ته نه پوهیږې دافغانستان خومؤمنو خلکو پاڅون بالاخره دروسیي ښکیلاک ټغر له ټولې نړۍ نه ټول کړ !؟

۷.شارحه(:) یا « colon»

دا نښه دیو لغت یا فقرې دشرح کولو دپاره استعمالیږي. کله چې لوستونکی دانښه ووینې هغه ته دا توقع پیدا کیږي،چې راتلونکی عبارت به دوعدې سره سم پر مطلب باندې نوره رڼا هم واچوي.

دالاندې نمونې وګورئ:

۱.دسیاستمدار لپاره دا خواص ډیر مهم دي: درې درجې جرآت او یوه درجه پوهه

۲.د افغانستان مشهور ښارونه دادی: کابل ، ننګرهار ، کندهار ، هرات....

د بل چا دنقل قول په صورت کې تر غبرګو لیندکیو (قوسونو) دمخه راځې.لکه: رسول الله(ص) فرمایلي دي: «... آیا زه تاسې ته ونه وایم،چې دوزخي څوک دی ؟

واورئ !هر کبر جن ، بد خویه اوبخیل دوزخي دي»

۸.وړې لیندۍ( ) یا «Small bracket »

په عمومې ډول لیندۍ په دې لاندې ځایونو کې استعمالیږي:

۱.کله چې معترضه فقره داصلي جملې په منځ کې راشي.لکه: دحمان بابا اشعار،چې (ستا ډیر خوښ دي) د ساده انشاء ډیره ښه نمونه ده.

زه سبا (که خدای کول) ننګرهار ته ځم.

۲.هغه رقمونه او د ابجد توري،چې د ویش د ښودلو دپاره راځي دلیندیو ترمنځ نیول کیږي. لکه: داسلام پنځه بناوې دادي:

(۱) کلمه (۲)لمونځ (۳)روژه (۴) زکات (۵) حج

۳.په قانوني او تجارتي پاڼو کې دپیسو مقدار لومړی په تورولو ورپسې دلیندیو ترمنځ په رقمونو لیکل کیږي.لکه:

ددې تړون له مخې به نوموړي کور میاشتنۍ کرایه دوه زره څلور سوه پنځه ویشت(۲۴۲۵) افغانۍ وي.

۴.په لیکنه کې لیکوال دنورو ژبو د لغاتو مانا په وړو لیندیو کې لیکي ،لکه:

د هر سیاسي نظام منطق (پوخوالی) هغه د پالیسۍ (کړنلارې) څخه څرګندیږي

۵.لیکونکی ځینې تاکیدي کلمې ، فني او تخنیکي اصطلاحات په وړو قوسونو کې لیکي.

۲ـ ځیني لیکوالان د یوې موضوع مآخذ هم په وړو لیندیو کې لیکي ،لکه:
روسان د ۱۳۲۷ه ش کال د دلوې په (۲۲) مه نیټه د شرمیدلې ماتې په نتیجه کې له افغانستان نه ووتل.
(د ژنیورو غه جوړه ، د ډاکټرحسن کاکړ لیکنه ،۲۰ مخ)
۷ـ د یو شخص د زیږیدنې او مړینې نیټه هم په قوسونو کې راځي ،لکه:
احمد شاه بابا (۱۷۲۳ـ۱۷۷۲م) د پاني پت په جګړه کې پر مرهټیانو بریالی شو.
۹ـ غبرګ قوسونه («») یا د نقل نخښه « Snorted comma»
د نقل نښه په لاندې ځایونو کې استعمالیږي:
۱ـ ټول مستقیم نقل قولونه په غبرګو لیندیو کې راځي، لکه:
د بشریت ستر لارښود حضرت محمد (ص) فرمایلي دي:
«مسلمانان په خپلو کې سره ورونه دي... هغوی دې نه په امانت کې خیانت کوي ، نه دې په خپلو کې سره دروغ وایي او نه دې یو بل سره رسوا او شرمنده کوي. د هر مسلمان ورور عزت ، آبرو ، مال او وینه تویول حرام دي. د انسان د پاره همدا ناوړه خوی دی، چې هغه بل مسلمان ورور سپک او خوار وګڼي.» (ترمذي)
۲ـ که له یوه اثر څو پراګرافه را نقل کیږي باید د هر پراګراف په سر کې د نقل نښې راشي.
لکه: «په عراق کې عربي ویونکي پنځه میلیونه شپږسوه پنځوس زره تنه دي»
«په ترکیه ایران او افغانستان کې عربې ویونکي شپږویشت میلیونه او سوه پنځه دیرش زره تنه دي.»
۳ـ د ویاند (نطاق) د تغییر په حال کې:
په کیسو او ډرامو کې، چې د خبرو نوبت بدلیږي نو د نوي ویاند خبرې معمولاً په نوې کرښه کې راځي او د نقل د نښو ترمنځ نیول کیږي:
«خان میره !ما ګومان کاوه چې ته به څومره غیرتي سړی یې ،مګر خبر نه وم، چې ته ګیدړ وختې...
د خپل لاس ټوپک مې درکړ، چې ته به حبدر مړکړې....»
«خان صاحب له ځانه سره به فکر وکړم. دلته خو زه څوک نه لرم، چې مشوره او مصلحت ورسره وکړم»
۴ـ کله لیکوال ځانته خاصه اصطلاح وضع کوي، چې په محیط کې عمومیت نه لري ، لکه: دی «ګیډیالوجست» دی له خپلې ګیدې لغتونه وضع کوي.
۵ـ د تاکید او توجه جلبولو د پاره،لکه: «حق» ورکول کیږی نه ، اخیستل کیږي.
۶ـ د مقالو عنوانونه:
په کابل مجله کې مې د «ژبې او کلتور » په باره کې مقاله ډیره خوښه شوه.
۷ـ په متن کې د ځینو خاصو نومونو راخیستنې به وخت کې هغه نومونه په غبرګو لیندکیو کې نیول کیږي.لکه: مرحوم پوهاند عبدالحی حبیبې په خپل مشهور اثر «د پښتو ادبیاتو تاریخ» کې پښتو ادب پر پنځو دورو ویشلی دی.
۱۰ـ ستوری (*)یا « One star»
په لاندې ځایونو کې کارول کیږي:
۱ـ ځینې لیکوالان یې په متن کې کلمې تر څنګ ږدی، چې په لمن لیک (پاروقي) کې د هغې په هکله

خاصې خبرې او توضيحات ليکي.
۲- ځيني ليکوالان يې دهغه ټکي ترڅنګ ږدی، چې په متن کې يې راوړي خو په صحت يې باورنه لري.
يادونه: بايد ووايو چې ځيني ليکوال دهغه ټکي ترڅنګ، چې په صحت يې بارو نه لري په قوس کې سواليه (؟) ليکي. په دغو دواړو صورتونو کې :ستوری ايښودل کيږي او که د پوښتنې نښه ، لازمه ده چې په لمن ليک کې يې توضيح وشی.
۱۱- درې ستوري(***)يا«Three star »:
چيرته چې دمقالې يوه برخه تمامه شي او بله برخه شروع کيږي نو ددواړو برخو ترمنځ دغه نښه يانې ستوري ليکي، چې يوه برخه له بلې نه بيله شي.
درې ستوري معمولاً ديو ډرام يا داستان په يوه پرده يابرخه کې چې څومفکورې په جلاجلا پراګرفونو کې څيړل کيږي ، نودهرې مفکورې تر پای ته رسيدو وروسته په يو خالي کې درې ستوري (***) ايښودل کيږي.
۱۲- ډش يا لنډکش خط(-)يا «Dash »
په لاندې ځايونو کې استعماليږي:
۱- دهغه مرکب خاص نوم په منځ کې، چې دوه توکي ولري، لکه: دکابل-کندهار لويه لار(شاهراه)
۲- ځيني ليکوال په جمله کې معترضه برخه ددوو ډشونوترمنځ رااخلي. لکه: په يو مضمون کې دشاګرد پوهه-لکه چې تجربو ښودلې ده-دهغه له پوښتنو معلوميږي.
يا : هغه ورځ-خدای (ج)دې بيا نه راولي-په مسلمانانو څومره وغميدله، چې په افغانستان کې کمونيستي ريژيم اعلان شو.
۳- په داستان يا ډرامه کې، چې ددوو تنو ترمنځ خبرې اترې وي ، نودهر يوه خبره په همدغه نښه بيلوي اودنوم دتکراري ليکنې مخه نيسي ،لکه:
احمد ، محمود ته وويل:
هغه به وويني؟
-هو ! که وخت مې پيدا کړ
-که وخت دې پيدا نه کړ؟
-بيابه ارومرم اخبرکړم.
۴- داعدادو ،ارقامو اونيټو ښودلو لپاره هم استعماليږي ، لکه: سږ کال د زمري له۲۰-۱۵ پورې سخته ګرمي وه.
يا: د (۱۹۳۹-۱۹۴۵) کلونو ترمنځ په دويمه نړواله جګړه کې په ميليونونو انسانان ووژل شول.
۵- په يوه مادوار لست کې د عددونو کيڼ اړخ ته ايښودل کيږي ، لکه:
دښه وياند (نطاق) صفتونه دادي:
۱- دخبرو منطقي تسلسل
۲- په موضوع حاکميت
۳- ښه غږ لرل
۴- داوريدونکو له روحياتو الهام اخيستل

۱۳ـ درې ټکي (...) یا «Ellipsis mark »

درې ټکي په لاندې ځایونو کې استعمالیږي:

۱ـ د جملې په پیل هغه وخت راځي، چې لیکوال په خپله لیکنه کې د بل چاد خبرې یوه برخه رانقلوي، نو کومه مخکینۍ برخه چې د ده له موضوع سره اړخ نه لګوي پرځای یې درې ټکي (...) ږدي.لکه:«... اسلامي اخلاق هیڅ کله دانه ایجابوي، چې څوک خپل خیر د نورو په شرکې ولټوي»

۲ـ د جملو په منځ کې هم د متن د یوې برخې څخه، چې مطلوبه نه وي د حذف او صرف نظر کولو په منظور راځي.لکه: دا فغانستان مؤمن خلک، چې لرغونی کلتور او له ویاړه ډک تاریخ لري... د بهرنیو یرغلګرو پرضد یې په پوره میړانې سره مبارزه او مجاهده کړې او ... ددې خبرې د ثبوت لپاره د افغانانو او انګریزانو ترمنځ درې جګړې او له روسانو سره لس کلنه جګړه ډیرې ښې نمونې دي.

۳ـ کله چې د بل چاقول رانقلوو حذف شوي عبارتونه د درې ټکو په واسطه ښودل کیږي.
که حذف شوی عبارت د جملې په پای کې راغلی وي او جمله وروباندې ختمه شوې وي، څلور ټکي اینبودل کیږي ، درې یې د حذف شوي عبارت پر ځای او یو ټکی د جملې د پای دپاره.

۴ـ د متن په لیکنه کې د هغې کلمې پرځای هم درې ټکی راوړي، چې دویلو نه وي او د قلم عفت یې دلیکلو اجازه نه ورکوي او یا لیکوال نه غواړي، چې هغه ولیکي.

۱۴ـ د ټینګار نخښه یا اوږد کش خط (ـ):

کله چې په یوه لیکنه کې د اسې کلمې ،جملې یا پراګرافونه راځي، چې د نورو کلمو ، جملو او پراګرافونو په نسبت یې اهمیت زیات او ورته پاملرنه مطلوبه وي او یا د لیکوال دا هدف وي، چې پر دغه برخه زیات تاکید او ټینګار وکړي نو ددې لپاره دا لاندې لارې شته:

۱ـ دغه برخه باید د نور متن څخه په برجسته توګه ولیکل شي.

۲ـ دلیک په ډول کې تو پیر راولي، په دې ډول، چې که نور متن په نسخ لیک لیکل شوی وي دا برخه باید په نستعلیق ولیکل شي، چې له نور متن څخه د مطلوبې برخې تو پیر وشي.

۳ـ معمولاً لیکوالان د مطلوبې برخې د ښودلو لپاره تر هغې لاندې کرښه کش کوي ،لکه:په افغانستان کې د کمونستانو جنایاتو مؤمنو افغانانو ته د هغوی د تیر ایستونکي شعار «کور ، کالي ، ډوډۍ» اصلي ماهیت ښه په ډاګه کړ.

۱۵ـ غشی ( ):

دغه نښه په عام مفهوم دلورې او طرف څرګندونه یا ښودنه کوي. په لیکنو کې معمولاً ددو مقصدونو لپاره استعمالیږي.

۱ـ کله چې لیکونکی په توضیحي او تشریحي لمن لیک (پاورقې) کې کومه توضیح یا تشریح لیکي او په هماغه مخ کې یې لیکنه ځای نه شي نو لازماً باید تر هغه ورسته مخ ته نقل شي نو د راغلې تو ضیح په اخرنې برخه کې

( ) د غشي په راوړلو سره لو ستونکی ته ښودنه کوي، چې نوره توضیح په راتلونکی مخ کې ولولی. په راتلونکي مخ کې د تو ضیح لیکلو د مخه بیا هم

( ) غشي نښه اینبودل کیږي تر څو لوستونکی ته وښیي ،چې دا توضیح د مخکني

مخ څخه دلته راغلې ده.
۲.د يوې ترکيبي کلمی د تجزيې او ياد ځوجزونود ترکيب ښودنې لپاره راځي.لکه:دوست+ي = دوستي   يا : پوهنه+تون = پوهنتون.
۱۶.لوی قوسونه ([   ])يا «Bracket »:
د قوسونو دا خاص شکل هغه وخت استعمالیږي، چې ليکوال په خپله ليکنه کې د کوم ضرورت له مخې دبل چا عبارت را نقل کړي او غواړي، چې هغه ښه توضيح کړي او له ځانه پرې څه اضافه کړی، نو هغه دبل چا نقل قول خو په وړو غبرګو ليندکيو کې نيول کيږي، پخپله دليکوال له خوا اضافه شوي توضيحات په دغو لويو قوسونو [ ] کې راځي.
«دمخه په سيمه ايزه او نړيواله سطحه دا ذهنيت موجود وو، چې دروسي يرغلګر پوځونه ماتې نه خوړونکي دي، نوځکه يې چا دمقابلې لپاره زړه نه شو کولای او دنړۍ ډيره برخه يې ترګواښ او تهديد لاندې وه [خومؤمنو افغانانو هغوی له شرميدلې ماتې سره مخامخ او نړۍ يې دهغو له شر نه وژغورله]...»
۱۷.ويرګول (/):
دويرګول لفظ دلاتيني د (ويرګوله) څخه اخيستل شوی دی. چې په اصل کې واړه ميل او سيخ ته ويل کيږي. دويرګول نښه، چې دلته د دوو ليندیو ترمنځ ښودل کيږي (/) په انګليسي کې دبار په نوم ياديږي. زموږ زيات شمير ليکونکي سرچپه واو (،)ته ويرګول وايي، مګر دانګليسي قاموسونه او دليکوالی په باب کتابونه ويرګول او سرچپه واو دوه بيلې بيلې نښې ګڼي.
ويرګول په لاندې ځايونو کې استعماليږي:
۱.معمولاً د (او /يا) ترمنځ ويرګول نښه ايښودل کيږي.
که موږ دالاندې جملې ولولو:
(هلکان او /يا نجونې دواليبال ننداره کوي) مانايې داده، چې هلکان او نجونې يا هلکان يانجونې دواليبال ننداره کوي.
۲.ويرګول دنيټې د ليکلو دپاره هم استعماليږي. مثلاً ددې پرځای، چې د ۱۳۵۷ کال دثور اومه نيټه وليکو کولای شو دا سانتيا دپاره ويرګول استعمال کړه او دا سې يې وليکو :۱۳۵۷/۲/۷.
۳.کله ديو بيت دمسريو ترمنځ فاصله نه پريښودل کيږي پر ځای يې ديوګول نښه استعماليږي. لکه دخوشحال خټک دا بيت:
درست افغان له کندهاره تر اټکه   سره يو دننګ په کارپټ او اشکار
۱۸.لمن ليک (پاورقي):
کوم وخت چې ديو اثر څخه عبارت يا مفکوره را نقل کيږي بايد په لمن ليک کې دليکونکي، دکتاب دخپرونکی مؤسسې، دچاپ نيټې او دکتاب صفحې ته په ترتيب سره اشاره وشي.لکه دالاندې مثال:
ګل پاچا الفت، لوړ خيالونه اوژور فکرونه، پښتو ټولنه، ۱۳۳۵، ۲۹مخ.
که چيرې کتاب په ببيلو ګرافي کې معرفي کيږي، داصلي نوم نه تخلص مخکې راوړل کيږي. لکه:
الفت ګل پا چا، لوړ خيالونه او ژود فکرونه، پښتوټولنه ،۱۳۳۵.
کله کله د کتاب د چاپ ځای اونيټه په ليندکيو کې نيول کيږي. لکه:

ګل پاچا الفت ، لوړ خیالونه او ژور فکرونه ، (کابل: د پښتو ټولنه ۱۳۳۵) ،۲۵۰مخ.
که چیرې څیړونکي غواړي د یوې مجلې څخه عبارت را واخلي نو د مقالې نوم د نقل د نښو ترمنځ لیکي ، ورپسې د مجلې نوم د چاپ ځای ،نیټې او مخونو ته اشاره کوي.لکه:
محمد ٌصدیق روهي ، «د فولکلوري څیړنې میتودولوژي» فولکلور ، د فولکلور او ادب ټولنه ، ۱۳۵۲، لومړۍ ګڼه ، لومړی کال ،۸مخ.

اخځلیکونه

۱- افق ، محمد ظاهر ، لیک ننبي
۲- الفت،ګل پاچا ، لیکوالي املاء انشاء ،کابل:پښتو ټولنه،۱۳۳۹ کال
۳- الهام،محمد رحیم، دهریت پنزل پښتو ګرامر ژباړه
۴- بخاري،عظیم شاه خیال،صرف ونحو پښتو ،پېښور !۱۹۴۴ ز.کال
۵- بېنوا ،عبدالرؤف،اوسنی لیکوال،کابل: پښتو ټولنه۱۳۴۲ کال
۶-حبیبي،عبدالحی،پښتانه شعراء،کابل:پښتو ټولنه،۱۳۲۰ کال
۷- حبیبي،عبدالحی،د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک او دوهم ټوک ، پېښور:دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ کال
۸- رحمان بابا ،دیوان،پیښور: قصه خوانی، ۱۹۹۷ زیږدیز کال
۹- روهي،محمدصدیق،څېړنې لارښود ،کابل:پښتو ټولنه،۱۳۵۴ یونیز کال
۱۰- روهي،محمدصدیق.پښتوادبیاتو تاریخ معاصره دوره، پیښور: دانش خپرندویه ټولنه ،۱۳۸۴ کال
۱۱- رښتین،صدیق الله،دپښتو اشتقاقونه اوترکیبونه،پیښور: دساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز ۱۳۸۳ کال.
۱۲- رښتین،صدیق الله،ژبښودنه،پیښور: خاور خپرندویه ټولنه،۱۳۸۴ کال
۱۳- زرغونه،زېور،پښتوګرامر،دژبو اوادبیاتوپوهنځی درسي لکچرنوټ
۱۴- زرغونه،زېور،پښتونحو ،پیښور: دساپي پښتو څیړنو او پراختیا مرکز،۱۳۸۴ کال
۱۵- زیار،مجاوراحمد ،پښتوپښویه،پیښور : دانش خپرندویه ټولنه،۱۳۸۴ کال
۱۶- زیور،زېورالدین،پښتوادبیاتوتاریخ لرغونی،کلاسیکه او اوسنۍ دوره، دژبو ادبیاتو پوهنځی درسي لکچر نوټ
۱۷- مومند ،عبدالحمید ،دیوان،پیښ،ر: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳ کال
۱۸- مشوانی،عبدالقیوم،دخوشحال خان کلیات،پیښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ کال
۱۹- نیازی،سنګروال شهسوار،دپښتوادبیاتو معاصرتاریخ،پیښور:احمد شاه ابدالي پوهنتون، ۱۳۷۵ کال
۲۰- هاشمي،سیدمحی الدین، دلیکوالۍ فن، پیښور: دانش خپرندویه ټولنه ،۱۳۷۲ کال

Download from: aghalibrary